# د لومړي تواريخ کتاب

## د آدم نه تر ابراهيم پورې

(پيدايښت ۵: ۱ – ۳۲، ۱۰: ۱ – ۳۲، ۱۱: ۱۰ – ۲۶)

۱-۴ آدم د شيت پلار ؤ او دا د شيت اولاده وه: انوش د هغه
زوی ؤ، قينان د هغه لمسی او مهللييل د هغه کړوسی ؤ. د شيت نوره
اولاده دا وه: يارد د مهللييل زوی ؤ، خنوخ د يارد زوی ؤ، متوشالح
د خنوخ زوی ؤ، لمک د متوشالح زوی او نوح د لمک زوی ؤ. نوح
درې زامن درلودل چې نومونه يې دا وو: سام، حام او يافت.

۵ د يافت زامن: جومر، ماجوج، مادای، ياوان، توبال، ماشک او
تيراس. ۶ د جومر زامن: اشکناز، ريفات او توجرمه. ۷ د
ياوان زامن: اليشه، ترشيش، کتيان او رودانيان.

۸ د حام زامن: کوش، مصر، فوط او کنعان. ۹ د کوش اولاده
سيبا، حويله، سبته، رعمه او سبتکا وه. د رعمه اولاده شيبا او ددان
وه. ۱۰ د کوش يو زوی نمرود نومېده، هغه د نړۍ لومړنی قوي
جنګيالی ؤ. ۱۱ د مصر له اولادې څخه د لوديانو، عناميانو،
لهابيانو، نفتوحيانو، ۱۲ فتروسيانو، کسلوحيانو او د کريت قومونه
جوړ شول. (کسلوحيان د فلسطينيانو نيکونه وو.) ۱۳ کنعان د
صيدون او حيت پلار ؤ چې صيدون د هغه مشر زوی ؤ. همدارنګه
کنعان ۱۴-۱۶ د يبوسيانو، اموريانو، جرجاشيانو، حويانو، عرقيانو،
سينيانو، ارواديانو، صماريانو او حماتيانو د قومونو نيکه هم ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ د سام زامن عیلام، آشور، ارفکشاد، لود او آرام وو. د آرام
زامن عوص، حول، جاتر او ماشک وو. ۱۸ ارفکشاد د شالح پلار
ؤ او شالح د عیبر پلار ؤ. ۱۹ عیبر دوه زامن درلودل، د یو نوم فالج
ؤ ځکه چې د هغه په وخت کې د نړۍ خلک ووېشل شول. د هغه د
ورور نوم یقطان ؤ. ۲۰ د یقطان څخه الموداد، شالف، حزرموت،
یارح، ۲۱ هدورام، اوزال، دقله، ۲۲ عوبال، ابیمائیل، شیبا، ۲۳
اوفیر، حویله او یوباب پیدا شول. دا ټول د یقطان زامن وو.

۲۴-۲۷ د سام په اولاده کې دا خلک شامل وو: ارفکشاد، شالح،
عیبر، فالج، رعو، سروج، ناحور، تارح او ابرام چې وروسته یې نوم په
ابراهیم بدل شو.

## د ابراهیم اولاده

(پیدایښت ۲۵: ۱۲ – ۱۶)

۲۸ ابراهیم دوه زامن درلودل: اسحاق او اسماعیل.

۲۹-۳۱ اسماعیل دولس زامن درلودل چې په لاندې ترتیب سره
زیږېدلي وو: نبایوت، قیدار، ادبییل، مبسام، مشماع، دومه، مسا، حدد،
تیما، یطور، نافیش او قدمه.

۳۲ ابراهیم او د هغه وینځې قطوره شپږ زامن درلودل چې دا یې
نومونه وو: زمران، یقشان، مدان، مدیان، یشباق او شوحا. یقشان د
شیبا او ددان پلار ؤ. ۳۳ د مدیان زامن دا وو: عیفه، عیفر، خنوک،
ابیداع او الدعه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د عیسو اولاده

(پیدایښت ۳۶: ۱ – ۱۹)

۳۴ د ابراهیم زوی اسحاق دوه زامن درلودل: عیسو او اسراییل
یعني یعقوب. ۳۵ د عیسو زامن: الیفاز، رعوییل، یعوش، یعلام او
قورح. ۳۶ د الیفاز زامن: تیمان، اومار، صفي، جعتام، قناز او
عمالیق. تمناع د عمالیق مور وه. ۳۷ د رعوییل زامن: نحت، زارح،
شمه او مزه.

## لومړني ادومیان

(پیدایښت ۳۶: ۲۰ – ۳۰)

۳۸ د سعیر زامن دا وو: لوتان، شوبال، صبعون، عنه، دیشون، ایصر
او دیشان. ۳۹ د لوتان زامن حوري او هومام وو. تمناع د لوتان
خور وه. ۴۰ د شوبال زامن علوان، مناحت، عیبال، شفي او اونام
نومېدل. ایه او عنه د صبعون زامن وو.

۴۱ عنه د دیشون پلار ؤ او د حمران، اشبان، یتران او د کران نیکه
ؤ. ۴۲ د ایصر زامن: بلهان، زعوان او یعقان. د دیشان زامن: عوص
او اران.

## د ادوم پاچاهان

(پیدایښت ۳۶: ۳۱ – ۴۳)

۴۳-۵۰ له دې څخه مخکې چا په اسراییلو باندې پاچاهي نه وه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړي. لاندي ذکر شوو پاچاهانو په ترتيب سره وروسته د هر يو له مړيني د ادوم په هېواد باندې پاچاهي وکړه:

بالع د بعور زوی چې د دينهابه د ښار څخه يې په ادوم باندې حکومت کاوه.
يوباب د زارح زوی چې له بصرې څخه ؤ.
حوشام چې د تيمان له هېواد څخه ؤ.
حداد د بداد زوی چې له عويت څخه ؤ (هغه مديانيانو ته د موآب په خاوره کې په جګړه کې ماتې ورکړه.)
سمله چې له مسريقه څخه ؤ.
شاوول چې د رحوبوت د ښار څخه ؤ او دا ښار د سيند په غاړه پروت دی.
بعل حانان چې د عکبور زوی ؤ.
حداد چې له فاعو څخه ؤ. (د هغه د ښځې نوم مهيتبييل ؤ چې د مطرد لور وه او د ميذهب لمسۍ وه.) ۵۱ وروسته حداد هم مړ شو.

دا د ادوميانو قبيلوي مشران وو: تمناع، علوه، يتيت، ۵۲ اهوليبامه، ايله، فينون، ۵۳ قناز، تيمان، مبصار، ۵۴ مجدييل او عيرام.

## د يهودا اولاده

۱-۲ اسراييل يعني يعقوب دولس زامن درلودل چې نومونه يې دا وو: روبين، شمعون، لاوي، يهودا، يساکار، زبولون، دان، يوسف،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بنیامین، نفتالي، جاد او اشیر.

۳ یهودا او د هغه کنعانی ښځې بتشوع درې زامن درلودل چې
نومونه یې دا وو: عیر، اونان او شیله. خو د هغه مشر زوی عیر دومره
بد سړی ؤ چې څښتن هغه وواژه. ۴ یهودا او د هغه انږور تامار
هم دوه زامن درلودل چې نومونه یې دا وو: فارص او زارح. یهودا
ټول پنځه زامن درلودل.

۵ فارص دوه زامن درلودل: حصرون او حامول. ۶ د هغه
ورور زارح پنځه زامن درلودل: زیمري، ایتان، هیمان، کلکول او
دارع. ۷ عخان چې د زارح له اولادې څخه او د کرمي زوی ؤ د
اسراییلو په قوم باندې یې افت او مصیبت راوست، ځکه چې ده هغه
شیان د خپل ځان دپاره وساتل چې څښتن ته وقف شوي وو. ۸
ایتان یو زوی درلود چې عزریا نومېده.

## د داود پاچا نیکونه

۹ د حصرون زامن: یرحمییل، رام او کالیب. ۱۰ رام د
عمیناداب پلار او د نحشون نیکه ؤ چې د یهودا یو قبیلوي مشر ؤ.
۱۱ سلما د نحشون زوی، بوعز یې لمسی ۱۲ او عوبید یې
کړوسی ؤ. د عوبید د زوی نوم یسي ؤ. ۱۳-۱۵ یسي اووه زامن
درلودل چې په لاندې ترتیب سره زیږېدلي وو: الیاب، ابیناداب،
شمعي، نتنییل، ردای، اوصم او داود. ۱۶ یسي دوه لورګانې هم
درلودې چې نومونه یې زرویه او ابیجایل وو. زرویه د ابشای، یوآب
او د عسائیل مور وه. ۱۷ د ابیجایل مېړه یتر ؤ، یتر د اسماعیل د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اولادي څخه ؤ او د هغوی زوی عماسا نومېده.

## د حصرون اولاده

۱۸ د حصرون زوی کالیب د عزوبې سره واده وکړ او هغوی د یریعوت په نامه یوه لور درلودله چې د یشر، شوباب او اردون مور وه. ۱۹ د عزوبې له مړینې څخه وروسته کالیب د افراتې سره واده وکړ. افراتې حور وزېږاوه. ۲۰ حور د اوري پلار او د بصلییل نیکه ؤ.

۲۱ کله چې حصرون شپېته کلن شو، هغه د ماخیر د لور سره چې د جلعاد خور وه، واده وکړ. هغې د سجوب په نامه یو زوی وزېږاوه. ۲۲ سجوب د یاییر پلار ؤ چې د جلعاد په سیمه کې یې په درویشتو ښارګوټو باندې حکومت کاوه. ۲۳ خو یو څه موده وروسته د جشور او د سوریې قومونو په هغه سیمه کې شپېته ښارګوټي ونیول، په دې کې د یاییر کلي هم شامل وو او همدارنګه یې د قنات ښارګوټی او نژدې کلي هم ونیول. د جلعاد د سیمې ټول خلک د ماخیر له اولادې څخه وو.

۲۴ د حصرون له مړینې څخه وروسته کالیب افراتې ته لاړ او د حصرون ښځې ابیه، اشحور وزېږاوه چې د تقوع پلار ؤ.

## د یرحمییل اولاده

۲۵ د حصرون مشر زوی یرحمییل پنځه زامن درلودل: رام تر ټولو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مشر او نور يې بونه، اورن، اوصم او اخيا وو. ۲۶ د يرحميل
دوهمه ښځه عطاره نومېدله او هغې اونام وزېږاوه. ۲۷ رام درې
زامن درلودل: معص، يامين او عاقر. ۲۸ اونام دوه زامن درلودل:
شمای او یاداع.

شمای هم دوه زامن درلودل: ناداب او ابیشور. ۲۹ ابیشور د
ابیحایل سره واده وکړ او هغې دوه زامن احبان او مولید وزېږول. ۳۰
ناداب دوه زامن درلودل: سلد او افایم. سلد هېڅ اولاد نه درلود. ۳۱
د افایم زوی یشعي نومېده، هغه د شیشان پلار او د احلای نیکه ؤ.

۳۲ د شمای ورور یاداع دوه زامن درلودل: یتر او یوناتان. یتر هېڅ
اولاد نه درلود، ۳۳ خو یوناتان دوه زامن درلودل چې نومونه یې
فالت او زازا وو.

۳۴ شیشان لورګانې درلودلې، خو هېڅ زامن یې نه درلودل. هغه یو
مصري غلام درلود چې يرحاع نومېده. ۳۵ هغه خپله لور يرحاع ته
په نکاح ورکړه او هغې ورته عتای وزېږاوه. ۳۶ عتای د ناتان پلار
او د زاباد نیکه ؤ. ۳۷-۴۱ د زاباد په اولاده کې دا خلک شامل
وو: افلال د هغه زوی، عوبید د هغه لمسی، ییهو د هغه کړوسی او د
هغه نوره اولاده: عزریا، حالص، العاسه، سسمای، شلوم، یقمیا او
الیشمع.

## د کالیب نوره اولاده

۴۲ د يرحميل ورور يعني د کالیب زامن: مشر زوی یې میشاع د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زيف پلار ؤ او ماريشه د حبرون پلار ؤ. ۴۳ حبرون څلور زامن درلودل: قورح، تفوح، راقم او شمع. ۴۴ شمع د راحم پلار او د يرقعام نيکه ؤ. راقم د شمای پلار، ۴۵ د ماعون نيکه او د بيت صور غور نيکه ؤ.

۴۶ عيفه د کاليب وينځه وه او حاران، موزا او جازيز د هغوی زامن وو. حاران په خپل زوی باندې هم د جازيز نوم کېښود. ۴۷ يو سړی چې يهدای نومېده، شپږ زامن يې درلودل چې دا يې نومونه وو: راجم، يوتام، جيشان، فالت، عيفه او شاعف.

۴۸ معکه د کاليب يوه بله وينځه وه او هغې ورته دوه زامن شابر او ترحنه وزېږول. ۴۹ وروسته د هغوی دوه نور زامن وزېږېدل چې نومونه يې دا وو: شاعف چې د مدمنې د ښارګوټي بنياد ايښودونکی ؤ او شوا چې د مکبينا او جبعا د ښارګوټو بنياد ايښودونکی ؤ. عکسه د کاليب لور وه. ۵۰ د کاليب لمسي: د کاليب او د افراتې مشر زوی حور درې زامن درلودل: شوبال د قريه يعارم د ښارګوټي بنياد ايښودونکی، ۵۱ سلما د بيت الحم د ښارګوټي بنياد ايښودونکی او حاريف د بيت جادر د ښارګوټي بنياد ايښودونکی. ۵۲ د قريه يعاريم د ښارګوټي بنياد ايښودونکی شوبال د هرواه پلار او د منوحوت د نيمايي خلکو نيکه ؤ. ۵۳ هغه طايفې چې په قريه يعاريم کې اوسېدلې، هغه دا دي: يتريان، فوتيان، شوماتيان او مشراعيان وو. (د زرعه او اشتاول د ښارونو خلک د دغو طايفو غړي وو.)

۵۴ سلما د بيت الحم د ښارګوټي بنياد کېښود او هغه د نطوفاتيانو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نیکه ؤ. همدارنګه هغه د عطروت بیت یوآب د خلکو، د نیمايي
مانحتیانو او د زرعیانو نیکه هم ؤ. ۵۵ (هغه طایفې چې د اسنادو په
لیکلو او په کاپي کولو کې یې مهارت درلود او د یعبیز په ښارګوټي
کې اوسېدلې په لاندې ډول دي: ترعاتیان، شمعاتیان او سوکاتیان.
قینیان د حمت اولاده وه او حمت د ریکابیانو نیکه هم ؤ.)

## د داود پاچا اولاده

۳ ۱ دا د داود زامن وو چې په حبرون کې زېږېدلي وو:

مشر یې امنون نومېده چې مور یې اخینوعم له یزرعیل څخه
وه؛ دوهم یې دانیال ؤ چې مور یې ابیجایل له کرمله وه.
۲ دریم یې ابشالوم ؤ چې مور یې معکه نومېدله چې د
جشور د پاچا تلمای لور وه؛ څلورم یې ادونیا ؤ چې مور
یې حجیت نومېدله.
۳ پنځم یې شفطیا ؤ چې مور یې ابیطال نومېدله او شپږم
یې یترعام ؤ چې مور یې عجله وه.

۴ دا شپږ واړه د هغو اووه نیمو کلونو په دوران کې زېږېدلي وو
کله چې داود په حبرون کې پاچاهي کوله.

هغه په اورشلیم کې دري دېرش کاله پاچاهي وکړه. ۵ په اورشلیم
کې د هغه نور زامن هم وزېږېدل. د هغه ښځه بتشبع چې د عمییل
لور وه، هغه ته یې څلور زامن وزېږول چې نومونه یې دا وو: شمعي،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوباب، ناتان او سلیمان. ۶ داود نور نهه زامن هم درلودل:
ایبحار، الیشوع، الیفالط، ۷ نوجه، نفج، یافیع، ۸ الیشمع، الیاداع
او الیفلط. ۹ له دغو ټولو زامنو پرته داود د خپلو وینځو څخه هم
زامن درلودل. هغه یوه لور هم درلودله چې تامار نومېدله.

## د سلیمان پاچا څخه وروسته پرله پسې ځای ناستي

۱۰-۱۵ د سلیمان اولاده چې ټول پاچاهان وو، داسې وه: رحبعام
د هغه زوی، ابیا د هغه لمسی، اسا د هغه کړوسی. د هغه نوره اولاده
په ترتیب سره په لاندې ډول وه: یهوشافاط، یهورام، اخزیا، یوآش،
امصیا، عزریا، یوتام، آحاز، حزقیا، منسي، آمون او یوشیا. یوشیا
څلور زامن درلودل چې نومونه یې یوحانان، یهویاقیم، صدقیا او
شلوم دي. ۱۶ یهویاقیم دوه زامن درلودل: یهویاکین او صدقیا.

## د یهویاکین پاچا اولاده

۱۷ یهویاکین چې بابل ته د بندي په توګه یووړل شو اووه زامن
درلودل. د هغه نومونه دا وو: شالتي ییل، ۱۸ ملکیرام، فدایا، شنازر،
یقمیا، هوشاماع او ندبیا. ۱۹ فدایا دوه زامن درلودل: زروبابل او
شمعي. زروبابل هم دوه زامن درلودل: مشلام او حننیا. هغه یوه لور
هم درلودله چې نوم یې شلومیت ؤ. ۲۰ هغه پنځه نور زامن هم
درلودل: حشوبه، اوهل، برکیا، حسدیا او یوشب حسد. ۲۱ حننیا
دوه زامن درلودل: فلتیا او اشعیا. اشعیا د رفایا پلار، د ارنان نیکه او د
عوبدیا غور نیکه ؤ. عوبدیا د شکنیا پلار ؤ. ۲۲ شکنیا یو زوی
درلود چې شمعیه نومېده او پنځه لمسي یې درلودل: حطوش، یجال،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باريح، نعريا او شافاط. ۲۳ نعريا درې زامن درلودل: اليوعيناى،
حزقيا او عزريقام. ۲۴ اليوعيناى اووه زامن درلودل: هوداويا،
الياشيب، فلايا، عقوب، يوحانان، دلايا او عناني.

## د يهودا اولاده

۴ ۱ دا د يهودا اولاده ده: فارص د هغه زوى، حصرون د هغه
لمسى او د هغه نوره اولاده: كرمي، حور او شوبال. ۲ شوبال د
ريايا پلار، د يحت نيكه او د اخوماى او د لاهد غور نيكه ؤ. دا ټول
د صرعاتيانو د طايفې څخه وو.

۳-۴ حور د كاليب د ښځې يعني د افراتې مشر زوى ؤ او د
هغه اولادې د بيت لحم د ښارګوټي بنياد كېښود. حور درې زامن
درلودل: عيطام، فنوعيل او ايصر. عيطام درې زامن درلودل: يزرعيل،
يشما او يدباش. هغه يوه لور هم درلوده چې هسللفوني نومېدله.
فنوعيل د جدور او ايصر د حوشا د ښارګوټو بنيادونه كېښودل.

۵ اشحور چې د تقوع د ښارګوټي بنياد يې اېښى ؤ دوه ښځې
درلودلې، چې نومونه يې حلا او نعره وو. ۶ اشحور او نعره څلور
زامن درلودل: اخزام، حافر، تيماني او اخشطاري. ۷ اشحور او
حلا درې زامن درلودل: صرت، صوحر او اتنان.

۸ قوس د عانوب او د صوبيبه پلار ؤ او د هغو طايفو نيكه ؤ چې
د هاروم له زوى اخرحيل څخه د اولادې په توګه پاتې وې.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ یو سړی چې یعبیز نومېده، د خپلو ټولو وروڼو په پرتله عزتمن
سړی ؤ. د هغه مور په هغه ځکه یعبیز نوم ایښی ؤ چې د هغه
زېږېدنه ډېره دردناکه وه. ۱۰ خو یعبیز د اسراییلو خدای ته داسې
دعا وکړه: «خدایه، ماته برکت راکړه او زما ځمکه پراخه کړه. زما
سره مل شه او له داسې هر بد شي مې وساته چې د درد سبب
ګرځي.» خدای د یعبیز دعا ومنله.

۱۱ د شوحه ورور کلوب یو زوی درلود چې محیر نومېده. محیر د
اشتون پلار ؤ، ۱۲ اشتون درې زامن درلودل: بیت رافا، فاسیح او
تحنه. تحنه د ناحاش د ښار بنیاد ایښودونکی ؤ. د دغو سړیو اولاده
په ریکه کې اوسېدله.

۱۳ قناز د عتنییل او د سرایا پلار ؤ. عتنییل دوه زامن درلودل:
حتات او معونوتای. ۱۴ معونوتای د عفره پلار ؤ. سرایا د یوآب
پلار ؤ او یوآب د کسبګرو په دره کې د اوسېدو بنیاد کېښود. ځکه
چې د هغه ځای ټولو اوسېدونکو د شیانو په جوړولو کې مهارت
درلود.

۱۵ د یفنه زوی کالیب درې زامن درلودل چې نومونه یې دا وو:
عیرو، ایله او ناعم. ایله د قناز پلار ؤ.

۱۶ یهلل ییل څلور زامن درلودل: زیف، زیفه، تیریا او اسري ییل.

۱۷-۱۸ عزره څلور زامن درلودل: یتر، میرد، عیفر او یالون. میرد
د فرعون د لور بتیې سره واده کړی ؤ. بتیه یوه لور وزېږوله چې مریم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نومېدله او دوه زامن يې هم درلودل: شمای او يشبح. يشبح د اشتموع د ښارګوټي بنياد کېښود. ميرد هم د يهودا له قبيلې څخه د يوې ښځې سره واده وکړ او د هغوی زامن يارد، حابر او يقوتييل وو. يارد د جدور د ښارګوټي، حابر د سوکوه د ښارګوټي او يقوتييل د زانوح د ښارګوټي بنياد کېښود.

١٩ هوديه د نحم له خور سره واده وکړ. د هغوی په اولادې کې قعيله، د جرميانو له طايفې څخه او اشتموع، د معکاتيانو له طايفې څخه وو.

٢٠ شيمون څلور زامن درلودل: امنون، رنه، بنحانان او تيلون.

يشعي دوه زامن درلودل: زوحيت او بنزوحيت.

٢١ شيله د يهودا له زامنو څخه ؤ. د هغه په اولاده کې دا خلک شامل وو: عير چې د ليکه د ښارګوټي بنياد يې کېښود او لعده چې د مريشه د ښارګوټي بنياد يې کېښود؛ د کتان د اوبدونکو طايفه چې د بيت اشبيع په ښارګوټي کې اوسېدل؛ ٢٢ يوقيم او هغه خلک چې د کوزيبا په ښارګوټي کې اوسېدل؛ او يوآش او ساراف چې په موآب کې يې حکمراني وکړه او بيا وروسته بيت لحم ته راستانه شول. (دا ټول له زړو راپورونو څخه پاتې دي.) ٢٣ د دغو طايفو غړي هغه کلالان وو چې د نتاعيم او جديره په ښارګوټو کې اوسېدل او د پاچا دپاره به يې کار کاوه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۴ شمعون پنځه زامن درلودل چې نومونه يې دا وو: نمويیل،
يامين، ياريب، زارح او شاوول. ۲۵ د شاوول زوی شلوم، لمسی
يې مبسام او کړوسی يې مشماع ؤ. ۲۶ د مشماع زوی حمويیل،
لمسی يې زکور او کړوسی يې شمعي ؤ. ۲۷ شمعي شپاړس زامن او
شپږ لورګانې درلودلې. خو د هغه ورونو دومره اولادونه نه درلودل، نو
د شمعون قبیله د يهودا د قبیلې په شان لويه نه شوه.

۲۸ دا د شمعون د قبیلې ښارګوټي وو: بيرشبع، مولاده،
حزر شوعال، ۲۹ بلهه، عاصم، تولاد، ۳۰ بتويیل، حرما، صقلغ،
۳۱ بيت مرکبوت، حزر سوسيم، بيت بريي او شعرايم. دا هغه
ښارګوټي وو چې هغوی د داود د پاچاهۍ تر وخته په کې واوسېدل.
۳۲ هغوی په لاندې پنځو نورو استوګنځايونو کې هم اوسېدل:
عيطام، عين، رمون، توکن، عاشان ۳۳ او د هغوی ګردچاپېره کلي د
بعل تر ښارګوټي. دا د هغوی د کورنيو او استوګنځايونو سوانح دي
چې د هغوی په نسب نامه کې ثبت شوي دي.

۳۴-۳۸ دا لاندې سړي د خپلو طايفو مشران وو: مشوباب،
يمليک، د امصيا زوی يوشه، يويیل، ييهو (د يوشبيا زوی، د سرايا
لمسی او د عسي ييل کړوسی)، اليوعيناى، يعکوبه، يشوحايا، عسايا،
عديیيل، يسيميیيل، بناياه او زيزا (د شفعي زوی او د الون لمسی. د
الون په نيکونو کې يدعيا، شيمري او شمعيه شامل وو.) په دې خاطر
چې د هغوی کورنۍ زياتې شوې، ۳۹ هغوی لوېديځ خواته تر
جدور او د درې ختيځ خواته د خپلو رمو د څړځای د موندلو دپاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپاره شول. ۴۰ هغوی په یوه پراخه سیمه کې چې ارامه او
سوله ایزه وه، په کافي اندازه حاصلخېزه څړځایونه ومونډل. مخکې له
دې د حام اولادې هلته ژوند کاوه. ۴۱ هغه سړي چې نومونه یې
ذکر شول، هغوی د یهودا د پاچا حزقیا په وخت کې راغلل. هغوی د
حام په اولادې او د هغو په استوګنځایونو باندې برید وکړ. هغوی په
معونیانو باندې چې هلته اوسېدل هم حمله وکړه. دواړه قومونه یې په
پوره توګه له منځه یوړل چې تر نن ورځې پورې یې کومه نښه پاتې
نه ده. هغوی د هغو په ځایونو کې مېشته شول، ځکه چې هلته د دوی
د رمو دپاره ښه څړځایونه وو.

۴۲ یو څه موده وروسته د شمعون له قبیلې څخه پنځه سوه سړي د
یشعي د زامنو فلتیا، نعریا، رفایا او د عزییل په امر د سعیر غرنۍ
سیمې ته ورننوتل. ۴۳ هغوی هلته پاتې عمالیقیان ووژل او د هغه
وخت راهیسې تر اوسه هلته اوسیږي.

## د روبین اولاده

**۵** ۱ روبین د یعقوب مشر زوی ؤ، خو هغه د مشر زوی په توګه
خپل حق له لاسه ورکړ، ځکه چې هغه د خپل پلار د یوې ښځې
یعنې د خپلې میرې سره څملاست. د لومړني زیږېدل شوي زوی حق
بیا د یوسف زامنو ته ور په برخه شو. روبین په نسب نامې کې د مشر
په توګه شامل نه شو. ۲ که څه هم یهودا په خپلو ورونو کې تر
ټولو قوي شو، خو د مشرتوب حق د یوسف ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ د یعقوب مشر زوی روبین څلور زامن درلودل: حنوک، فلو،
حزرون او کرمي.

۴-۶ د یوییل اولاده: شمعیه یې زوی، جوج یې لمسی، او
شمعي یې کړوسی ؤ. د هغه نوره اولاده: میکا، ریایاه، بعل او بیره.
بیره د روبین د قبیلې یو مشر ؤ. وروسته د آشور پاچا تغلت فلاسر،
بئیره د اسیر په توګه بوت.

۷ د کورنۍ په نسب نامې کې د طایفو دا مشران شامل وو: یعییل
چې د یوې طایفې مشر ؤ، زکریا ۸ او بالع، چې د عزاز زوی او د
شمع لمسی ؤ. شمع د یوییل له طایفې څخه ؤ. دا طایفه په عروعیر او
په هغې سیمې کې اوسېدله چې نبو او بعل معون ته غزېدلې وه. ۹
د جلعاد په سیمه کې د هغوی پادې زیاتې شولې، نو هغوی د ختیځې
دښتې پورې هغه ځمکه ونیوله چې د فرات تر سینده غزېدلې وه.

۱۰ د شاوول د پاچاهۍ په دوران کې د روبین قبیلې د هاجریانو په
ضد جګړه وکړه. هغوی ته یې ماتې ورکړه او د جلعاد ختیځ ته، هغه
سیمه چې د هغوی باندې په کې وې ونیوله.

## د جاد اولاده

۱۱ د جاد قبیله د روبین د قبیلې په شمال کې د باشان په سیمه کې
اوسېدله. د جاد سیمه په ختیځ کې تر سلخې غزېدلې وه. ۱۲ یوییل
مشر ؤ او د خپلې طایفې بنیاد ایښودونکی هم ؤ او شافام دوهمه
مشره طایفه وه. یعنای او شافاط په باشان کې د نورو طایفو بنیاد

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ایښودونکي وو. ۱۳ د قبیلې نور غړي له لاندېنیو اوو طایفو څخه وو: میکاییل، مشلام، شبع، یورای، یعکان، زیع او عیبر.

۱۴ دا ټول د ابیحایل اولاده وه چې له پلاره پیل شوې وه: حوري یې پلار، یاروح یې نیکه او جلعاد یې غور نیکه ؤ. نور نیکونه یې دا وو: میکاییل، یشیشای، یحدو او بوز. ۱۵ د عبدییل زوی او د جوني لمسی اخي د دغو طایفو مشر ؤ.

۱۶ هغوی د جلعاد په سیمې، د باشان د سیمې په ښارګوټو او د شارون په ټولو څړځایونو کې اوسېدل. ۱۷ (دا نسب نامه د یهودا د پاچا یوتام او د اسراییلو د پاچا یروبعام په وخت کې ثبت شوې وه.)

## د ختیځو قبیلو لښکرې

۱۸ د جاد او ختیځې منسي قبیلو ﭐڅلورڅلوېښت زره اووه سوه او شپېته زړور جنګیالي درلودل چې د جګړې دپاره ښه روزل شوي وو چې په سپرونو، تورو، لیندو او غشو سره وجنګېږي. ۱۹ هغوی د هاجریانو، یعنې د یطور، نافیش او د نوداب د قبیلو په ضد جګړه وکړه. ۲۰ هرکله چې دا عسکر د خپلو دښمنانو په ضد جګړې ته تلل، هغوی به خدای ته زارۍ کولې او باور یې پرې کاوه چې مرسته به ورسره وکړي. ځکه د روبین، جاد او د ختیځې منسي قبیلو هاجریانو او د هغوی ملګرو ته یې ماتې ورکړه. ۲۱ دغو اسراییلي قبیلو پنځوس زره اوښان، دوه سوه او پنځوس زره پسونه او دوه زره خره ونیول او سل زره کسان یې اسیران کړل. ۲۲ هغوی خپل ډېر دښمنان ووژل، ځکه چې دا جګړه د خدای جګړه وه. د روبین، جاد

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د ختيځې منسي قبيلې تر هغه وخته پورې په هغه سيمه کې اوسېدلې، ترڅو چې آشور ته د اسيرانو په توګه بوتلل شوې.

## د ختيځې منسي نيمه قبيله

۲۳ د ختيځې منسي خلک د باشان په سيمه کې او د هغې شمال خواته تر بعل حرمون، سنير او د حرمون تر غره ميشت شول او د دوی نفوس ډېر زيات شو. ۲۴ د دوی د طايفو مشران دا وو: عيفر، يشعي، اليئيل، عزرييل، ارميا، هودويا او يحدييل. هغوی نامتو مشران او زړور جنګيالي وو.

## د روبين، جاد او د ختيځې منسي قبيلو اسارت

۲۵ د روبين، جاد او د ختيځې منسي د قبيلو خلکو له هغه خدای سره بې وفايي وکړه چې د هغوی نيکونو ورته عبادت کاوه. هغوی د هغو قومونو د بتانو عبادت پيل کړ چې خدای د هغوی له وړاندې تګ سره سم د کنعان له خاورې څخه شړلي وو. ۲۶ نو د اسراييلو خدای د آشور پاچا فول (مشهور په تغلت فلاسر) راوپاراوه، چې په روبين، جاد او د ختيځې نيمې منسي قبيلو باندې حمله وکړي. هغوی يې حلح، خابور، هارا او د جوزان سيند ته د اسيرانو په توګه بوتلل. هغوی تر نن ورځې هلته دي.

## د مشرو کاهنانو شجره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ ۱ لاوي درې زامن درلودل: جرشون، قهات او مراري.

۲ قهات څلور زامن درلودل: عمرام، یزهار، حبرون او عزییل.

۳ عمرام دوه زامن (هارون او موسی) او یوه لور مریم درلودله.
هارون څلور زامن درلودل: ناداب، ابیهو، العازار او ایتامار.

۴ د العازار په اولاده کې دا خلک شامل وو: فینحاس یې زوی،
ابیشوع یې لمسی ۵ او نوره اولاده یې: بقي، عزي، ۶ زرحیا،
مرایوت، ۷ امریا، اخیطوب، ۸ صادوق، اخیمعص، ۹
عزریا، یوحانان، ۱۰ عزریا (هغه کاهن چې د خدای په کور کې یې
چې سلیمان پاچا په اورشلیم کې ودان کړی ؤ، خدمت کاوه)، ۱۱
امریا، اخیطوب، ۱۲ صادوق، شلوم، ۱۳ حلقیا، عزریا، ۱۴
سرایا او یهوصاداق. ۱۵ یهوصاداق هغه وخت جلاوطنه شو کله
چې څښتن د یهودا او اورشلیم خلک د نبوکدنصر په لاس اسیران
کړل.

## د لاوي نوره اولاده

۱۶ لکه مخکې چې مې یادونه وکړه، لاوي درې زامن درلودل چې
نومونه یې جرشون، قهات او مراري وو. ۱۷ د جرشون د زامنو
نومونه دا وو: لبني او شمعي. ۱۸ قهات د عمرام، یزهار، حبرون او
د عزییل پلار ؤ. ۱۹ مراري د محلي او د مشوي پلار ؤ.

د لاوي دغه اولاده د خپلو طایفو مشران شول:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰-۲۱ د جرشون په اولاده کې دا شجره شامله وه چې د هغه له زویه شروع کېدله: لبني يې زوی، يحت يې لمسی، زمه يې کړوسی. نوره اولاده يې يوآخ، عيدو، زارح او ياترای وه.

۲۲-۲۴ د قهات په اولاده کې دا شجره شامله وه چې د هغه له زويه شروع شوه: عميناداب يې زوی، قورح يې لمسی، اسير يې کړوسی او نوره اولاده يې: القانه، ابياساف، اسير، تحت، اوري ييل، عزيا او شاوول.

۲۵ القانه دوه زامن درلودل: عماسای او اخيموت. ۲۶-۲۷ د اخيموت په اولاده کې د زامنو دا شجره شامله وه: القانه يې زوی، صوفای يې لمسی، نحت يې کړوسی. نوره اولاده يې الياب، يروحام او القانه وه.

۲۸ سموييل دوه زامن درلودل: مشر يې يوييل نومېد او کشر يې ابيا ؤ.

۲۹-۳۰ د مراري په اولاده کې د زامنو دا شجره شامله وه: محلي يې زوی، لبني يې لمسی، شمعي يې کړوسی. نوره اولاده يې عزه، شمعي، هجيا او عسايا وه.

## د خدای د کور ساز غږوونکي او سندرغاړي

۳۱ وروسته له دې چې د لوظ صندوق د څښتن کور ته يووړل شو، داود پاچا د لاوي د قبيلې څخه ساز غږوونکي او سندرغاړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غوره کړل چې د عبادت په ځای کې د موسیقۍ مسوولیت په غاړه
واخلي. ۳۲ مخکې له دې چې سلیمان پاچا د خدای کور په
اورشلیم کې ودان کړي، هغوی په دغه دوران کې په سپېڅلې خېمې
کې له اصولو سره سم په خپل وار سندرې ویلې.

۳۳ د هغو خلکو د کورنیو شجرې چې دا وظیفه یې تر سره کوله په
لاندې ډول دي:

د قهاتیانو له طایفې څخه: د یوییل زوی هیمان چې د سندرغاړو د
لومړنۍ ډلې مشر ؤ. دا د هغه د کورنۍ شجره وه: هیمان چې یوییل
یې پلار، سموییل یې نیکه، ۳۴ القانه یې غور نیکه او نور نیکونه
یې یروحام، الییل، توح، ۳۵ صوف، القانه، محت، عماسای، ۳۶
القانه، یوییل، عزریا، سفنیا، ۳۷ تحت، اسیر، ابیاساف، قورح، ۳۸
یزهار، قهات، لاوي او یعقوب وو.

۳۹ اساف د سندرغاړو د دوهمې ډلې مشر ؤ. هغه د هیمان خپلوان
او د هغه ښي لاس ته به ودرېده. د اساف د کورنۍ شجره چې تر
لاوي پورې رسېدله په لاندې ډول ده: اساف چې برکیا یې پلار،
شمعي یې نیکه، ۴۰ میکاییل یې غور نیکه او نور نیکونه یې بعسیا،
ملکیا، ۴۱ اتني، زارح، عدایا، ۴۲ ایتان، زمه، شمعي، ۴۳ یحت،
جرشون او لاوي وو.

۴۴ ایتان چې د مراري له طایفې څخه ؤ، د سندرغاړو د درېمې
ډلې مشر ؤ. هغه هم د هیمان خپلوان ؤ او چپ لاس ته به یې
ودرېده. د هغه د کورنۍ شجره چې تر لاوي پورې رسېدله په لاندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ډول ده: ايتان چې قيشي يې پلار، عبدي يې نيکه، ملوک يې
غور نيکه ۴۵ او نور نيکونه يې حشبيا، امصيا، حلقيا، ۴۶ امصي،
باني، سامر، ۴۷ محلي، موشي، مراري او لاوي وو.

۴۸ پاتې لاويان د نورو دندو دپاره په سپېڅلې خېمې کې وګمارل
شول.

## د هارون اولاده

۴۹ هارون او د هغه اولاده هغه څوک وو چې د خوشبويۍ نذرانې
او هغه قربانۍ يې وړاندې کولې چې د قربانۍ په ځای باندې سوځول
کېدلې. هغوی په ډېر سپېڅلي ځای کې د ټول خدمت او د هغو
قربانيو مسووليت په غاړه درلود چې خدای ورباندې د اسراييلو
ګناهونه بخښل. هغوی دا ټول کارونه د خدای د خدمتګار موسی د
حکمونو سره سم کول.

۵۰ د هارون د اولادې نومونه دا دي: العازار يې زوی، فينحاس يې
لمسی، ابيشوع يې کړوسی او نوره اولاده يې په ترتيب سره: ۵۱
بقي، عزي، زرحيا، ۵۲ مرايوت، امريا، اخيطوب، ۵۳ صادوق او
اخيمعص ده.

## د لاويانو دپاره بنارګوټي

۵۴ د هارون اولاده د قهات د لاويانو له طايفې څخه وه او لومړنۍ
ډله وه چې د پچې په اچولو سره غوره شوه، ترڅو د اوسېدو دپاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورته ښارګوټي ورکړل شي. ۵۵ هغوی ته د يهودا په سيمه کې د
حبرون ښار او شاوخوا څړځايونه ورکړل شول. ۵۶ خو د حبرون
د شاوخوا پټي او کلي د يفنه زوی کاليب ته ورکړل شول. ۵۷-۵۹
نو د هارون اولادې ته دا لاندې ښارونه او د هغو د شاوخوا
څړځايونه هم ورکړل شول: حبرون (د پناه اخيستلو ښار)، لبنه، يتير،
اشتموع، حيلين، دبير، عاشان او بيت شمس. ۶۰ د بنيامين له قبيلې
څخه هغوی ته د جبع، علمت او عناتوت ښارګوټي د هغو له شاوخوا
څړځايونو سره ورکړل شول. د هارون اولادې ته ديارلس ښارګوټي
ورکړل شول.

۶۱ د لوېديځې منسي په سيمه کې لس ښارګوټي د قهاتيانو پاتې
کورنيو ته د پچې په اچولو سره ورکړل شول.

۶۲ د جرشون طايفې ته کورنۍ په کورنۍ د يساکار، اشير او د
نفتالي په سيمو کې او په باشان کې د ختيځې منسي په سيمه کې
ديارلس ښارګوټي ورکړل شول.

۶۳ هماغه شان، د مراري طايفې ته د روبين، جاد او د زبولون په
سيمو کې دولس ښارګوټي د پچې په اچولو سره ورکړل شول.

۶۴ نو په دې ډول، د اسراييلو قوم لاويانو ته د اوسېدلو دپاره
ښارګوټي او د هغو په شاوخوا کې څړځايونه هم ورکړل. ۶۵
(همدارنګه د يهودا، شمعون او د بنيامين ښارګوټي چې پورته يې
يادونه شوې ده، د پچې په اچولو سره ورکړل شول.)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶۶ د قهات د طایفې ځینې کورنیو ته د افرایم د سیمې څخه
ښارګوټي او د هغو شاوخوا څړځایونه ورکړل شول: ۶۷ شکیم
(چې د افرایم په غرنۍ سیمه کې د پناه اخیستلو ښار ؤ)، جازر، ۶۸
یقمعام، بیت حورون، ۶۹ ایالون او جت رمون. ۷۰ د قهات پاتې
کورنیو ته د لوېدیځې منسي په سیمه کې د عانیر او بلعام ښارګوټي د
هغو له شاوخوا څړځایونو سره ورکړل شول.

۷۱ جرشونیانو ته په لاندې ډول ښارګوټي د هغو د څړځایونو سره
ورکړل شول: د ختیځې منسي په سیمه کې: جولان چې په باشان کې
دی او عشتاروت. ۷۲ د یساکار په سیمه کې: د جرشونیانو طایفې
ته د یساکار له قبیلې څخه څلور ښارګوټي ورکړل شول چې هغه دا
دي: قادش، دابره، ۷۳ راموت او عانیم چې د هغو شاوخوا
څړځایونه هم په کې شامل وو. ۷۴ د اشیر په سیمه کې: جرشونیانو
ته د اشیر له قبیلې څخه څلور ښارګوټي ورکړل شول: مشال، عبدون،
۷۵ حقوق او رحوب چې د هغو شاوخوا څړځایونه هم په کې
شامل وو. ۷۶ د نفتالي په سیمه کې: په پای کې جرشونیانو ته د
نفتالي له قبیلې څخه درې ښارګوټي ورکړل شول چې هغه دا وو:
قادش په جلیل کې، حمون او قریتایم چې د هغو شاوخوا څړځایونه
هم په کې شامل وو.

۷۷ پاتې مراریانو ته په لاندې ډول ښارګوټي د هغو له شاوخوا
څړځایونو سره ورکړل شول: د زبولون په سیمه کې: د رمونو او د
تابور ښارګوټي. ۷۸ د روبین په سیمه کې، اریحا ته مخامخ د اردن
سیند په ختیځ کې: په دښته کې باصر، یهصه، ۷۹ قدیموت او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

میفاعت. ٨٠ د جاد په سیمه کې: په جلعاد کې راموت او محانیم،
٨١ حشبون او یعزیر.

## د یساکار اولاده

٧ ١ یساکار څلور زامن درلودل: تولاع، فوه، یاشوب او شمرون.

٢ تولاع شپږ زامن درلودل: عزي، رفایا، یرییل، یحمای، یبسام او
سموییل. هغوی د تولاع د طایفې د کورنیو مشران او زړور عسکر
وو. د داود پاچا په وخت کې د هغوی د اولادې شمېر ۲۲۶۰۰ تنه
وو.

٣ عزي د یزرحیا پلار او د میکاییل، عوبدیا، یوییل او د یشیه
نیکه ؤ او دا د کورنیو مشران هم وو. ٤ هغوی دومره ډېرې ښځې
او اولادونه درلودل چې د خپلې اولادې د شمېر سره سم هغوی
کولای شول چې ۳۶۰۰۰ کسان د عسکرۍ دپاره تیار کړي. ٥ د
یساکار د قبیلې د ټولو کورنیو په نسب نامې کې ۸۷۰۰۰ تنه جنګیالي
ثبت شوي وو.

## د بنیامین اولاده

٦ بنیامین درې زامن درلودل: بالع، باکر او یدییئیل.

٧ بالع پنځه زامن درلودل: اصبون، عزي، عزییل، یریموت او
عیري. هغوی ټول قوي عسکر او د خپل پلار په طایفه کې د کورنیو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مشران وو. د بالع د طايفې په نسب نامې کې ۲۲۰۳۴ تنه جنګيالي ثبت شوي وو.

۸ باکر نهه زامن درلودل: زميره، يوآش، اليعازر، اليوعيناى، عمري، يريموت، ابيا، عناتوت او علمت. ۹ د هغوى په نسب نامه کې د ۲۰۲۰۰ تنو قوي عسکرو او د قبيلو د مشرانو نومونه ثبت شوي وو.

۱۰ يديعييل د بلهان پلار او د يعوش، بنيامين، ايهود، کنعنه، زيتان، ترشيش او د اخيشاحر نيکه ؤ. ۱۱ هغوى په خپله طايفه کې د کورنيو مشران وو او په دې طايفه کې ۱۷۲۰۰ تنه قوي عسکر د جګړې دپاره تيار وو. ۱۲ عير دوه زامن درلودل چې شفيم او حفيم نومېدل او احير د حوشيم په نامه يو زوى درلود.

## د نفتالي اولاده

۱۳ بلهه د نفتالي مور وه. نفتالي څلور زامن درلودل: يحصييل، جوني، يصر او شلوم.

## د منسي اولاده

۱۴ منسي دوه زامن درلودل: اسرييل او ماخير، چې د هغه سوريايي وينځې زېږولي وو. ماخير د جلعاد پلار ؤ. ۱۵ ماخير يوه ښځه حفيم ته او يوه يې هم شفيم ته وکړه. ماخير يوه خور درلودله چې معکه نومېدله.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ماخیر دوهم زوی صلفخاد ؤ او هغه یوازې لورګانې درلودلې.

١٦ د ماخیر ښځې معکې فارش او شارش وزېږول. فارش دوه
زامن درلودل: اولام او راقم. ١٧ اولام د بدان پلار ؤ. دا ټول د
جلعاد په اولاده کې شامل وو. جلعاد د ماخیر زوی او د منسي لمسی
ؤ.

١٨ د جلعاد خور، همولکه درې زامن درلودل: ایشهود، ابیعزر او
محله.

١٩ شمیداع څلور زامن درلودل: اخیان، شکیم، لقحي او انیعام.

## د افرایم اولاده

٢٠ افرایم د شوتالح پلار، د بارد نیکه او د تحت غور نیکه ؤ. د
هغه د کورنۍ نوره شجره په لاندې ډول وه: العادا، تحت، ٢١ زاباد،
او شوتالح. افرایم دوه نور زامن هم درلودل، ایصر او العاد. خو هغوی
په هغه وخت کې ووژل شول کله چې هغوی د جت سیمې له
اوسېدونکو څخه د څارویو د غلا کولو هڅه وکړه. ٢٢ افرایم په
خپلو زامنو ډېره موده ویر وکړ او د هغه خپلوان به راتلل او هغه ته به
یې ډاډګېرنه ورکوله. ٢٣ هغه بیا د خپلې ښځې سره یو ځای شو او
هغه امیدواره شوه او یو زوی یې وزېږاوه. افرایم په هغه باندې د
بریعه نوم کېښود، ځکه چې هغه د مصیبت په وخت کې وزېږېده.

٢٤ شیره د افرایم لور وه. هغې د ښکتني او پورتني بیت حورون او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ازین شیره ښارګوټي ودان کړل.

۲۵ افرایم یو بل زوی هم درلود چې رافح نومېده او د هغه د
اولادې ترتیب په لاندې ډول ؤ: راشف یې زوی، تالح یې لمسی،
تاحن یې کړوسی ؤ ۲۶ او نوره اولاده یې لعدان، عمیهود، الیشمع،
۲۷ نون او یوشع وو.

۲۸ د افرایم اولادې په جنوب کې تر بیت ییل پورې، په ختیځ کې
تر نعران پورې او په لوېدیځ کې تر جازر پورې سیمې او ښارګوټي
ونیول. د هغوی په خاوره کې د دغو ښارګوټو د شاوخوا کلي او هم
شکیم، ایه او د هغو شاوخوا کلي شامل وو.

۲۹ د منسي د قبیلې د سرحد په اوږدو کې بیت شان، تعنک، مجدو،
دور او د هغو د شاوخوا کلي شامل وو.

د یعقوب د زوی یوسف اولاده په دغو ښارګوټو او کلیو کې اوسېدله.

## د اشیر اولاده

۳۰ اشیر څلور زامن درلودل چې یمنه، یشوه، یشوی او بریعه
نومېدل او یوه لور یې درلودله چې سارح نومېدله.

۳۱ بریعه دوه زامن درلودل: حابر او ملکییل. ملکییل د برزاوت
پلار ؤ. ۳۲ حابر درې زامن درلودل چې یفلیط، شومیر او حوتام
نومېدل او یوه لور یې درلودله چې شوعا نومېدله. ۳۳ یفلیط درې
زامن درلودل: فاسک، بمهال او عشوت. ۳۴ شومیر څلور زامن

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

درلودل: اخي، رهجه، يحبه او آرام. ۳۵ د يفليط ورور هيلام خلور زامن درلودل: صوفح، يمناع، شالش او عامال. ۳۶ د صوفح زامن دا وو: سوح، حرنفر، شوعال، بيري، يمره، ۳۷ باصر، هود، شما، شلشه، يتران او بيرا. ۳۸ يتر درې زامن درلودل: يفنه، فسفا او ارا.

۳۹ علا درې زامن درلودل: آرح، حنيييل او رصيا.

۴۰ دا د اشير اولاده وه او هغوی ټول د کورنيو ډېر عزتمن مشران او زړور خلک وو چې د عسکری دپاره تيار وو. د اشير په قبيله کې ټول چې په نسب نامه کې ثبت شوي وو، ۲۶۰۰۰ تنه وو.

## د بنيامين نوره اولاده

۸ ۱ بنيامين پنځه زامن درلودل چې په لاندې ترتيب سره زېږېدلي وو: بالع، اشبيل، اخرخ، ۲ نوحه او رافا. ۳ د بالع زامن په لاندې ډول دي: ادار، جيرا، ابيهود، ۴ ابيشوع، نعمان، اخوخ، ۵ جيرا، شفوفان او حورام.

۶-۷ د ايهود زامن دا وو: نعمان، اخيا او جيرا. هغوی د جبع په ښارګوټي کې د طايفو مشران وو، خو وروسته د مناحت ښارګوټي ته د اسيرانو په توګه بوتلل شول او دا د جيرا لارښوونه وه. جيرا دوه زامن درلودل چې عزه او اخيحود نوميدل.

۸-۱۱ شحرايم او د هغه ښځې حوشيم دوه زامن درلودل چې ابيطوب او الفعل نوميدل. خو شحرايم وروسته حوشيم او خپلې بلې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښځې يعنې بعرا ته طلاق ورکړ. بيا هغه د موآب هېواد ته کډه وکړه او
هلته يې د خوداش سره واده وکړ او هغې اووه زامن وزېږول چې
نومونه يې دا وو: يوباب، ظبيا، ميشا، ملکام، يعوز، شکيا او مرمه.
هغوی ټول د شحرايم په طايفه کې د کورنيو مشران وو. ١٢ د الفعل
د زامنو نومونه په لاندې ډول دي: عيبر، مشعام او شامد. شامد د اونو
او د لود ښارګوټي او د هغو د شاوخوا کلي ودان کړل.

١٣ بريعه او شمع هم د الفعل زامن وو. هغوی په هغې طايفې کې د
کورنيو مشران وو چې د ايالون په ښارګوټي کې اوسېدل او هغوی د
جت د ښار اوسېدونکي وشړل. ١٤-١٦ د بريعه په اولاده کې
اخيو، شاشق، بريموت، زبديا، عراد، عيدر، ميکاييل، يشفه او يوخا
شامل وو. ١٧-١٨ د الفعل په اولاده کې زبديا، مشلام، حزقي،
حابر، يشمرای، يزليا او يوباب شامل وو. ١٩-٢١ د شمعي په
اولاده کې ياقيم، زکري، زبدي، اليعينای، صلتای، اليييل، عدايا، برايا
او شمرت شامل وو. ٢٢-٢٥ د شاشق په اولاده کې يشفان، عيبر،
اليييل، عبدون، زکري، حانان، حننيا، عيلام، عنتوتيا، يفديا او فنوعيل
شامل وو. ٢٦-٢٧ د يروحام په اولاده کې شمشرای، شحريا،
عتليا، يعرشيا، ايليا او زکري شامل وو. ٢٨ دا ټول چې په نسب
نامه کې ثبت شوي وو، په خپله طايفه کې د کورنيو مشران وو او په
اورشليم کې اوسېدل.

٢٩ يعييل د جبعون د ښار بنياد کېښود او هلته مېشته شو. د هغه
ښځه معکه نومېدله ٣٠ او د هغه مشر زوی عبدون نومېده. د هغه
نور زامن هم وو چې په لاندې ترتيب سره زېږېدلي وو: صور، قيس،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بعل، ناداب، ٣١ جدور، اخیو، زاکر، ٣٢ او مقلوت چې د شمعه
پلار ؤ. هغوی هم له خپلو خپلوانو سره نژدې په اورشلیم کې
اوسېدل.

## د شاوول پاچا کورنۍ

٣٣ نیر د قیس پلار او د شاوول پاچا نیکه ؤ.

شاوول څلور زامن درلودل: یوناتان، ملکیشوع، ابیناداب او اشبعل.
٣٤ یوناتان د مریب بعل پلار او د میکا نیکه ؤ. ٣٥ میکا څلور
زامن درلودل: فیتون، ملک، تاریع او آحاز. ٣٦ آحاز د یهوعده
پلار او د علمت، عزموت او زیمري نیکه ؤ. زیمري د موزا پلار ٣٧
د بنعا نیکه او د رافه غور نیکه ؤ. نوره اولاده یې دا وه: العاسه او
آصیل. ٣٨ آصیل شپږ زامن درلودل: عزریقام، بوکرو، اسماعیل،
شعریا، عوبدیا او حانان. ٣٩ د آصیل ورور عیشق درې زامن
درلودل چې نومونه یې په ترتیب سره اولام، یعوش او الیفلط وو.
٤٠ د اولام زامن زړور عسکر وو او د لیندې او غشو په ویشتلو
کې تکړه وو. هغوی ډېر زامن او لمسي درلودل، چې شمېر یې یوسلو
پنځوسو تنو ته رسېدل.

دا ټول د بنیامین له قبیلې څخه وو.

## د بابل له اسارته راستانه شوي خلک

٩ ١ د ټولو اسراییلیانو نسب نامې د اسراییلو د پاچاهانو د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاریخ په کتاب کې ثبت شوي وې.

د یهودا خلک له ښښتن سره د بې وفايي له امله د اسیرانو په توګه
بابل ته بوتلل شول. ٢ هغه خلک چې اول راستانه شول او په
خپلو ښارګوټو کې یې خپل جایدادونه بېرته لاسته راوړل، کاهنان،
لاویان، د خدای د کور خدمتګاران او نور اسراییلیان وو. ٣ د
یهودا، بنیامین، افرایم او منسي د قبیلو ځینې خلک په اورشلیم کې
مېشته شول.

۴-۶ د یهودا له قبیلې شخه شپږ سوه او نوي تنه په اورشلیم
کې مېشت شول. هغوی ټول د یهودا د درېو زامنو یعنې د فارص،
شیله او زارح اولاده وه. د هغوی مشران عوتای، عسایا او یوییل وو.
عوتای د عمیهود زوی ؤ او شجره یې نیکونو ته په لاندې ډول
رسېدله: عمري، امري، باني او فارص. عسایا د یهودا د زوی شیله د
اولادې مشر ؤ؛ یوییل د یهودا د زوی زارح د اولادې مشر ؤ.

٧-٩ د بنیامین له قبیلې شخه نهه سوه شپږ پنځوس د کورنیو
مشران هم په اورشلیم کې مېشت شول. د هغوی نومونه په خپلو
نسب نامو کې لیکل شوي وو او دا خلک په کې ثبت شوي وو: سلو
د مشلام زوی، د هودویا لمسی او د هسنواه کړوسی؛ یبنیا د یروحام
زوی؛ ایله د عزي زوی او د مکري لمسی؛ مشلام د شفطیا زوی، د
رعوییل لمسی او د یبنیا کړوسی.

## په اورشلیم کې مېشت شوي کاهنان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰-۱۲ دا د هغو کاهنانو د نومونو لست دی چې په اورشلیم کې
مېشت شول: یدعیا، یهویاریب، یاکین او عزریا چې د خدای د کور
مشر ؤ. د عزریا شجره د پلار نه په لاندې ډول پیل شوه: حلقیا،
مشلام، صادوق، مرایوت او اخیطوب؛ د یروحام زوی عدایا چې
شجره یې په لاندې ډول وه: یروحام، فشحور او ملکیا؛ د عدییل
زوی معسای چې شجره یې په لاندې ډول وه: عدییل، یحزیره،
مشلام، مشلیمیت او یمیر.

۱۳ ټول ۱۷۶۰ تنه کاهنان وو، هغوی ټول په خپلو طایفو کې د
کورنیو مشران هم وو او د خدای په کور کې یې د کار کولو مهارت
درلود.

## په اورشلیم کې مېشت شوي لاویان

۱۴-۱۶ دا د هغو لاویانو د نومونو لست دی چې په اورشلیم کې
مېشت شول: د مراري له طایفې څخه شمعیه چې شجره یې د پلار نه
په لاندې ډول پیل شوه: حشوب، عزریقام او حشبیا؛ بقبقر، حارش او
جلال؛ د میکا زوی متنیا، چې د هغه شجره یې د پلار نه په لاندې
ډول پیل شوه: میکا، زکري او اساف؛ د شمعیه زوی عوبدیا، چې د
هغه شجره یې د پلار نه په لاندې ډول پیل شوه: شمعیه، جلال او
یدوتون؛ او د اسا زوی او د القانه لمسی برکیا، چې د نطوفې
ښارګوټي ته نژدې په کلیو کې اوسېدلی ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په اورشليم کې د خدای د کور د ساتونکو مېشت کېدل

۱۷ شلوم، عقوب، طلمون، اخيمان او د هغوی خپلوان د خدای د
کور ساتونکي وو. شلوم د هغوی مشر ؤ ۱۸ او هغوی ډېره موده
پخوا د خدای د کور ختيځې خواته د پاچا په دروازه کې ساتونکي
وو. مخکې له دې به هغوی د لاويانو د خېمو ساتنه کوله.

۱۹ شلوم د قوري زوی، د ابياساف لمسی او د قورح کړوسی ؤ. د
خپلو نيکونو په شان، چې په سپېڅلې خېمې کې يې خدمت کاوه،
هغه هم د قورح په طايفه کې د خپلو خپلوانو سره د خدای د کور په
دروازه کې ساتونکی ؤ. ۲۰ په پخوانيو وختونو کې د العازار زوی
فينحاس، د ساتونکو مسوول ؤ او ښتن د هغه سره مل ؤ.

۲۱ د مشلميا زوی زکريا هم د سپېڅلې خېمې د دروازې په خوله
کې ساتونکی ؤ.

۲۲ ټول دوه سوه دولس د دروازو ساتونکي وو، د هغوی ټولو
نومونه په خپلو کليو کې د کورنيو په نسب نامو کې ثبت شوي وو.
داود پاچا او سموييل پيغمبر د هغوی نيکونه ځکه غوره کړي وو چې
هغوی اعتباري خلک وو. ۲۳ په دې توګه هغوی او د هغوی
اولادې د خدای د کور يعنې د سپېڅلې خېمې د دروازو ساتنه کوله.

۲۴ د خدای د کور د څلورو واړو خواوو دپاره ساتونکي ټاکل
شوي وو. ۲۵ د هغوی خپلوان به په خپل وار سره له خپلو کليو
څخه د يوې هفتې دپاره راتلل او له هغوی سره به يې د ساتونکو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وظيفه تر سره کوله. ۲۶ هغوی ځلور مشران درلودل، چې ټول
لاویان وو او هغوی د نورو ساتونکو څارنه کوله. هغوی د خدای په
کور کې د کوټو او د خزانو د ساتلو مسوولیت په غاړه درلود. ۲۷
هغوی به په شپه کې د خدای د کور په شاوخوا کې اوسېدل چې
ساتنه یې وکړي او دا مسوولیت یې درلود چې هر سهار یې دروازې
خلاصې کړي.

## د نورو لاویانو دندې

۲۸ ځینو لاویانو د هغو سامانونو مسوولیت په غاړه درلود چې د
خدای په کور کې یې د عبادت په وخت کې ورڅخه کار اخیست.
هغوی به هر شی له کارولو څخه مخکې او وروسته شمېرل. ۲۹
نورو لاویانو ته د خدای د کور د سامان او د هغه د سپېڅلو لوښو، د
ډېرو ښو اوړو، شرابو، د زیتونو د تېلو، د خوشبویۍ او د مسالو د
ساتلو وظیفه ور په غاړه وه. ۳۰ خو د مسالو د ګډولو مسوولیت د
کاهنانو په غاړه ؤ. ۳۱ د شلوم مشر زوی متتیا د قورح د لاویانو د
طایفې یو غړی ؤ. هغه د هغې ډوډۍ د پخولو مسوولیت په غاړه
درلود چې د نذرانو دپاره یې ورڅخه کار اخیست. ۳۲ د قهاتیانو د
طایفې ځینو غړو دا وظیفه درلوده چې د هر سبت په ورځ سپېڅلې
ډوډۍ پخه کړي.

۳۳ د لاویانو د کورنیو هغه مشران چې ساز غږوونکي وو، د خدای
د کور په کوټو کې اوسېدل. هغوی نور مسوولیتونه نه درلودل ځکه
چې شپه او ورځ یې خپله وظیفه تر سره کوله.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۴ دا پورته ذکر شوي کسان د لاویانو په قبیله کې د کورنیو
مشران وو او په هماغه ډول یې نومونه د خپلو کورنیو په نسب نامو
کې ثبت شوي وو. هغوی په اورشلیم کې اوسېدل.

## د شاوول پاچا نیکونه او اولاده

(لومړی تواریخ ۸: ۲۹ - ۳۸)

۳۵ یعییل د جبعون د ښار بنیاد کېښود او هلته مېشت شو. د هغه
ښځه معکه نومېدله. ۳۶ د هغه مشر زوی عبدون نومېده او د هغه
نور زامن هم وو چې په لاندې ترتیب سره زېږېدلي وو: صور، قیس،
بعل، نیر، ناداب، ۳۷ جدور، اخیو، زکریا ۳۸ او مقلوت چې د
شمعه پلار ؤ. هغوی هم د خپلو خپلوانو سره نژدې په اورشلیم کې
اوسېدل.

۳۹ نیر د قیس پلار او د شاوول پاچا نیکه ؤ.

شاوول څلور زامن درلودل: یوناتان، ملکیشوع، ابیناداب او اشبعل.
۴۰ یوناتان د مریب بعل پلار او د میکا نیکه ؤ. ۴۱ میکا څلور
زامن درلودل: فیتون، ملک، تحریع او آحاز. ۴۲ آحاز د یعره پلار
او د علمت، عزموت او د زیمري نیکه ؤ. زیمري د موزا پلار ۴۳ د
بنعا نیکه او د رفایا غور نیکه ؤ. نوره اولاده یې دا وه: العاسه او
آصیل.

۴۴ آصیل شپږ زامن درلودل: عزریقام، بوکرو، اسماعیل، شعریا،
عوبدیا او حانان.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د شاوول پاچا او د هغه د زامنو وژنه

(لومړی سموییل ۳۱: ۱ – ۱۳)

۱۰ ۱ فلسطینیانو د جلبوع په غره کې د اسراییلو سره جګړه
وکړه. په هغه ځای کې ډېر اسراییلیان ووژل شول او پاتې یې چې په
هغو کې شاوول پاچا او د هغه زامن هم شامل وو، وتښتېدل. ۲
خو فلسطینیانو هغوی ډېر سخت تعقیب کړل او د شاوول درې زامن،
یوناتان، ابیناداب او ملکیشوع یې ووژل. ۳ په شاوول باندې
جګړه ډېره سخته شوه او کله چې د فلسطینیانو غشي ویشتونکي هغه
ته ورسېدل، نو هغه یې سخت ټپي کړ.

۴ شاوول خپل عسکر ته چې د هغه وسله یې لېږدوله وویل:
«خپله توره راوباسه او ما ووژنه، ترڅو دا کافر فلسطینیان مې په
عذاب نه کړي.» خو هغه ځوان له دې کاره ډېر ووېرېد. نو شاوول
خپله توره راواخیستله او ځان یې ورباندې وغورځاوه. ۵ کله
چې هغه ځوان ولیدل چې شاوول مړ شوی دی، نو هغه هم په خپلې
تورې باندې ځان وغورځاوه او مړ شو.

۶ نو په دې ډول شاوول او د هغه درې زامن ټول یو ځای مړه
شول او د هغه شاهي کورنۍ له منځه لاړه. ۷ کله چې هغو
اسراییلیانو چې د یزرعیل په دره کې اوسېدل دا خبره واورېدله چې
لښکرې تښتېدلې دي او شاوول او د هغه زامن مړه شوي دي، هغوی
خپل ښارګوټي پرېښودل او وتښتېدل. نو فلسطینیان راغلل او په دغو
ښارونو کې ځای په ځای شول.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ له جګړې یوه ورځ وروسته فلسطینیان د مړو د لوټلو دپاره
ورغلل، نو هغوی د شاوول او د هغه د زامنو مړي وموندل چې د
جلبوع په غره کې پراته وو. ٩ دوی د شاوول سر پرې کړ، له هغه
څخه یې زغرې وویستلې او د فلسطین ټول هېواد ته یې استازي
ولېږل چې دا زیری د خپلو بتانو او خپلو خلکو په منځ کې خپور
کړي. ١٠ دوی د شاوول وسلې د خپلو بتانو په عبادت خانه کې
کېښودلې او د هغه سر یې د خپل بت یعنې د داجون په عبادت خانه
کې ځوړند کړ.

١١ کله چې په جلعاد کې د یابیش د ښار ټولو خلکو د هغه څه په
اړه چې فلسطینیانو په شاوول باندې کړي وو، واورېدل، ١٢ تر
ټولو زړور سړي لاړل، د شاوول او د هغه د زامنو مړي یې راوړل او
یابیش ته یې یووړل. هغوی دا مړي هلته د خېړې د ونې لاندې ښخ
کړل او اووه ورځې یې روژه ونیوله.

١٣-١٤ شاوول ځکه مړ شو چې هغه بې وفا ؤ او د څښتن
اطاعت به یې نه کاوه. هغه حتی د څښتن په ځای له یوې کوډګرې
سره مشوره وکړه. نو ځکه څښتن شاوول وواژه او د هغه پاچاهي یې
د یسي زوی داود ته ورکړه.

## داود د ټولو اسراییلو پاچا

(دوهم سموییل ۵: ١ – ٣)

١١ ١ وروسته د اسراییلو ټول خلک په حبرون کې د داود

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حضور ته راټول شول او هغه ته يې وويل: «مونږ ستاسو خپل
هډوکي او وينه يو. ۲ حتی کله چې شاوول زمونږ پاچا ؤ، همدا
تاسو وئ چې په عسکري عملياتو کې به مو اسراييلو ته لارښوونه
کوله او ستاسو څښتن خدای تاسو ته وويل: ته به د يو شپون په توګه
زما د قوم لارښوونه کوې او د هغوی ټاکلی مشر به يې.» ۳ کله
چې د اسراييلو ټول مشران په حبرون کې داود پاچا ته ورغلل، داود
د څښتن په مخکې د هغوی سره يو تړون وکړ. بيا هغوی د داود سر
په تېلو غوړ کړ او هغه يې د اسراييلو د پاچا په توګه غوره کړ، لکه
څنګه چې څښتن د سموييل په وسيله دا وعده کړې وه.

## داود او د اورشليم فتح

(دوهم سموييل ۵: ۶ – ۱۰)

۴ داود پاچا او ټول اسراييليان لاړل او د اورشليم په ښار باندې
يې بريد وکړ. په هغه زمانه کې اورشليم د يبوس په نوم وپېژندل شو
او د دې ځای اصلي اوسېدونکي لا تر هغه وخته پورې هلته اوسېدل.
۵ يبوسيانو وويل: «ته به ونه شې کولای چې دلته راننوځې!» خو
داود د صهيون د غره کلا ونيوله چې وروسته د داود د ښار په نوم ياد
شو.

۶ داود خپلو لښکرو ته ويلي وو: «هغه لومړنی عسکر چې يو
يبوسی ووژني زما د لښکرو قوماندان به شي.» نو له دې امله چې د
زرويه زوی يوآب لومړی بريد وکړ، هغه قوماندان شو.

۷ وروسته داود هماغې کلا ته کډه وکړه، نو ځکه هغه د داود د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښار په نوم یاد شو. ۸ هغه د ښار شاوخوا سیمه پراخه کړه، په
هغه ځای کې یې کار پیل کړ چې ځمکه یې د غونډۍ له ختیځې خوا
ډکه وه او یوآب پاتې ښار بېرته جوړ کړ.

۹ داود نور هم قوي شو، ځکه چې مطلق قادر څښتن د هغه سره
مل ؤ.

## د داود نامتو جنګیالي

(دوهم سموییل ۲۳: ۸ – ۱۷)

۱۰ دا د هغو نامتو جنګیالیو نومونه دي چې د اسراییلو د خلکو په
مرسته یې د داود پاچاهي قوي او ټینګه کړه، ترڅو د څښتن د وعدې
سره سم د هغوی پاچا شي:

۱۱ له دغو جنګیالیو څخه لومړنی جنګیالی د حکمون زوی
یشوبعام ؤ او هغه د «درېو جنګیالیو» مشر ؤ. هغه په خپلې نېزې
باندې له درې سوه کسانو سره جګړه وکړه او هغوی ټول یې په یو
وخت کې ووژل. ۱۲ دوهم یې العازار ؤ چې د دودو زوی ؤ او د
اخوخ له خیله ؤ. ۱۳ کله چې فلسطینیان هلته د جګړې دپاره
راغونډ شول، العازار د داود سره په فسدمیم کې ؤ. په یو داسې ځای
کې چې له اوربشو څخه ډک پټی په کې ؤ، اسراییلي عسکر له
فلسطینیانو څخه وتښتېدل. ۱۴ خو العازار او د هغه سړیو د پټي په
منځ کې ځانونه ټینګ کړل او فلسطینیانو ته یې ماتې ورکړه. څښتن
هغوی ته یو لوی بریالیتوب ور په برخه کړ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ یوه ورځ له هغو دېرشو مشرانو جنګیالیو څخه درې تنه یو ګټ
ته چې د عدولام سمڅې ته نژدې او داود په کې ؤ، راغلل، په هغه
وخت کې د فلسطینیانو یوې ډلې د رفاییم په دره کې خېمې درولې
وې. ۱۶ داود هغه وخت په خپل خوندي ځای کې ؤ او د
فلسطینیانو یوې ډلې بیت لحم نیولی ؤ. ۱۷ داود ارمان وکړ او ویې
ویل: «کاشکې څوک له هغه کوهي څخه چې د بیت لحم دروازې ته
نژدې دی، ماته اوبه راوړي.»

۱۸ نو هغو درېو زړورو سړیو د فلسطینیانو کرښې ماتې کړې، له
کوهي څخه یې اوبه راوویستلې او داود ته یې راوړې، خو داود هغه
ونه څښلې او هغه یې د نذرانې په توګه څښتن ته توی کړې. ۱۹
داود وویل: «خدای دې نه کړي چې زه دا اوبه وڅښم! دا به د هغو
سړیو د وینو د څښلو په شان وي چې خپل ژوند یې په خطر کې
اچولی ؤ!» نو هغه دا اوبه ونه څښلې. دا د هغو درېو زړورو کسانو
کارونه وو.

## دېرش جنګیالي

(دوهم سموییل ۲۳: ۱۸ – ۳۹)

۲۰ ابیشای د یوآب ورور د دېرش کسیزې ډلې مشر ؤ. هغه په
خپلې نیزې باندې له درې سوه کسانو سره جګړه وکړه او هغوی یې
ووژل. نو په دې توګه هغه هم لکه د هغو درېو جنګیالیو په شان
مشهور شو. ۲۱ که څه هم هغه په هغې دېرش کسیزې ډلې کې ډېر
زیات مشهور او د هغوی مشر شو، خو د هغو درېو تنو په شان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مشهور نه شو.

۲۲ بنایاه د یهویاداع زوی چې د قبصییل ښخه ؤ، یو توریالی
عسکر ؤ. هغه ډېر د زړورتوب کارونه کړي وو چې په هغو کې د دوو
قوي موآبي جنګیالیو وژل شامل وو. یو ځلې هغه د واورې په ورځ
یوې کندې ته ورښکته شو او یو زمری یې وواژه. ۲۳ همدارنګه
هغه یو مصری وواژه چې قد یې له دوو مترو لوړ ؤ او یوه نېزه ورسره
وه چې د اوبدلو د کارګاه د میلې په شان غټه وه. بنایاه د خپلې امسا
سره په هغه باندې برید وکړ، د هغه مصري له لاسه یې نېزه واخیستله
او هغه یې وربانديې وواژه. ۲۴ بنایاه داسې د زړورتوب کارونه
وکړل چې د درېو جنګیالیو په شان مشهور شو. ۲۵ د هغه عزت د
هغې دېرش کسیزه ډلې ښخه ډېر زیات شو، خو په درېو جنګیالیو
کې یې ګډون نه درلود. داود هغه د خپلو ساتونکو د ګارډ مشر وټاکه.

۲۶ دا نور نامتو جنګیالي دي:

د یوآب ورور عساهیل
الحانان د دودو زوی له بیت لحم ښخه
۲۷ شموت له هرور ښخه
حالز له فلون ښخه
۲۸ عیرا د عقیش زوی له تقوع ښخه
ابیعزر له عناتوت ښخه
۲۹ سبکای له حوشا ښخه
عیلای له اخوخ ښخه
۳۰ مهرای له نطوفي ښخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حلد د بعنه زوی له نطوفي ښځه
۳۱ اتای د ریبای زوی د بنیامین له جبعي ښځه
بنایاه له فرعاتون ښځه
۳۲ حورای د جاعش له خوړونو ښځه
ابي ییل له عربات ښځه
۳۳ عزموت له بحروم ښځه
الیحبا له شعلبون ښځه
۳۴ هاشم له جزون ښځه
یوناتان د شاجای زوی له حرار ښځه
۳۵ اخیام د ساکار زوی له حرار ښځه
الیفال د اور زوی
۳۶ حافر له مکیرات ښځه
اخیا له فلون ښځه
۳۷ حصرو له کرمل ښځه
نعرای له ازبای زوی
۳۸ یوییل د ناتان ورور
مبحار د هجري زوی
۳۹ صالق له عمون ښځه
نحرای د بیروت ښځه چې د زرویه د زوی یعنې د یوآب
وسلې به يې وړلې.
۴۰ عیرا او جارب له یتر ښځه
۴۱ اوریا حیتي
زاباد د احلای زوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۲ عدینا د شیزا زوی چې د روبین په قبیله کې یو مشر ؤ
او د دېرش کسیزو عسکرو ډله هم ورسره وه
۴۳ حانان د معکه زوی
یوشافاط له متنا څخه
۴۴ عزیا له عشتاروت څخه
شاماع او یعییل د حوتام زامن له عروعیر څخه
۴۵ یدیعییل او یوخا د شمري زامن له تیص څخه
۴۶ الي ییل له محویم څخه
یریبای او یوشویا د الناعم زامن
یتمه له موآب څخه
۴۷ الي ییل، عوبید او یعسي ییل له مسوباه څخه.

## د بنیامین له قبیلې څخه د داود جنګیالي

۱۲ ۱ یو څه موده مخکې داود تللی ؤ چې د صقلغ په
ښارګوټي کې واوسېږي او د شاوول پاچا څخه پټ شي. کله چې
داود هلته ؤ، ډېرو زړورو جنګیالیو د هغه سره لاس یو کړ چې په
جګړه کې ورسره مرسته وکړي. ۲ دغه جنګیالي د شاوول پاچا له
خپلوانو او د بنیامین له قبیلې نه وو. هغوی د لیندۍ او د غشو په
ویشتلو کې تکړه وو، هغوی په خپل ښي او چپ لاس دواړو باندې
غشي ویشتلی شول او هم یې په مچنوغزه کې تیږې ویشتلی شوې.
۳-۷ د هغوی مشران په لاندې ډول وو: اخیعزر د شماعه زوی
چې له جبعې څخه ؤ، د ټولو مشر ؤ، د هغه ورور یوآش په رتبه کې
د هغه پسې دوهم سړی ؤ. دا د هغوی عسکر وو:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د عزموت زامن، یزي ییل او فالط
براکه او ییهو، له عناتوت ښخه
یشمعیا چې له جبعون ښخه ؤ، د هغو «دېرشو جنګیالیو» یو
مشر ؤ او په خپله هم نامتو جنګیالی ؤ
ارمیا، یحزییل، یوحانان او یوزاباد له جدیره ښخه
العوزای، یریموت، بعلیا، شمریا او شفطیا له حروف ښخه
د قورح له طایفې ښخه القانه، یشیه، عزرییل، یوعزر او
یشوبعام
له جدور ښخه د یروحام زامن یوعیله او زبدیا.

## د جاد د قبیلې ښخه د داود جنګیالي

٨ ځینې کسان د جاد له قبیلې ښخه چې د جګړې په هنر کې
تجربه لرونکي او زړور خلک وو، د دښتې په خوندي ځای کې چې
داود په کې ؤ، هغه ته ورواوښتل. دوی ټولو د سپرونو او نېزو په
استعمالولو کې مهارت درلود. هغوی د زمریو په شان هیبتناک او د
غرنیو هوسیو په شان تېز او چالاک وو. ٩-١٣ له هغوی ښخه د
یوولسو تنو رتبې او مقامونه په ترتیب سره په لاندې ډول وو: ایصر
یې مشر، بیا عوبدیا، الیاب، مشمنه، ارمیا، عتای، الیئیل، یوحانان،
الزاباد، ارمیا او مکبنای.

١٤ نوموړي کسان د لښکرو قوماندانان وو. د ټیټې رتبې خاوندان
یې د سلو کسان او لوړ رتبه یې د زرو کسانو قوماندانان وو. ١٥ د
کال په لومړنۍ میاشت کې یعنې په هغه وخت کې چې د اردن د سیند

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوبه د سیند له غاړو واوښتلې، هغوی د سیند نه تېر شول او هغه
خلک یې پسې واخیستل او خواره واره یې کړل چې د سیند د دواړو
غاړو په درو کې اوسېدل.

## د یهودا جنګیالي او د بنیامین نور جنګیالي

۱۶ یوځل د بنیامین او یهودا د قبیلو څخه یوه ډله سړي هغه
خوندي ځای ته لاړل چې داود په کې اوسېده. ۱۷ داود له هغوی
سره دباندې لیدنه او کتنه وکړه او ورته ویې ویل: «که چېرې تاسو د
ملګرو په توګه راغلي یئ چې زما په طرفدارۍ جګړه وکړئ، بیا پاتې
شئ او زمونږ سره لاس یو کړئ. خو که چېرې تاسو دا هڅه وکړئ
چې ما خپلو دښمنانو ته تسلیم کړئ، هغه خدای چې زمونږ نیکونو
یې عبادت کاوه، تاسو ته به سزا درکړي، ځکه چې ما کوم ظلم او
تېری نه دی کړی.»

۱۸ بیا په عماسای باندې د خدای روح نازل شو، (هغه څوک چې
وروسته د دېرشو جنګیالیو مشر شو) او ویې ویل:

«د یسي زویه داوده، مونږ ستا یو!

بریالي دې اوسې ته

او وې بریالی دې هغه څوک

چې کوي تا سره مرسته!

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې خدای دی مرستندوی ستا.»

وروسته داود هغوی ته هرکلی ووایه او د خپلو هغو عسکرو مسؤولان یې وټاکل چې په دښمنانو باندې یې یرغل کاوه.

## هغه جنګیالي چې له منسي څخه وو

۱۹ هغه وخت چې داود د فلسطینیانو سره د شاوول په ضد جګړې ته لاړ، یو شمېر د منسي خلک د داود په خوا شول. خو کله چې د فلسطینیانو پاچاهان په دې پوه شول چې کېدای شي داود د هغوی سره خیانت وکړي او د پخوا په شان به د شاوول سره لاس یو کړي، هغوی داود بېرته د صقلغ ښارګوټي ته ولېږه. ۲۰ دا د منسي هغه عسکر وو چې په هغه وخت کې یې د داود سره لاس یو کړ: عدناح، یوزاباد، یدیعییل، میکاییل، یوزاباد، الیهو او صلتای. هغوی ټول په منسي کې د زر کسیزو فرقو قوماندانان وو. ۲۱ هغوی د داود سره مرسته کوله چې د یرغلګرو ډلو سره وجنګېږي، ځکه چې هغوی ټول زړور جنګیالي وو. وروسته هغوی د اسراییلو په لښکرو کې قوماندانان شول.

۲۲ ورځ په ورځ به نوي کسان راتلل او د داود سره به یې لاس یو کاوه، نو زر هغه د یو لوی او قوي لښکر خاوند شو، چې دا د خدای لښکر ؤ.

## په حبرون کې د داود لښکري

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۳ کله چې داود په حبرون کې ؤ، ډېرو په وسلو سمبال شويو
کسانو د هغه له لښکرو سره لاسونه يو کړل، ترڅو هغه د شاوول په
ځاى پاچا کړي، لکه څنګه چې څښتن وعده کړې وه. د هغوى شمېر
په لاندې ډول ؤ: ۲۴ د يهودا د قبيلې څخه: ۶۸۰۰ تنه ښه سمبال
شوي کسان چې سپرونه او نېزې ورسره وې؛ ۲۵ د شمعون د قبيلې
څخه: ۷۱۰۰ تنه زړور جنګيالي؛ ۲۶ د لاوي د قبيلې څخه: ۴۶۰۰
تنه؛ ۲۷ يهوياداع د هارون د کورنۍ مشر د ۳۷۰۰ تنو سره؛ ۲۸
صادوق، يو زړور ځوان او د هغه د پلار د کورنۍ افسران: ۲۲ تنه؛
۲۹ د بنيامين د قبيلې څخه (د شاوول خپله قبيله): ۳۰۰۰ تنه، د
دغو څخه اکثره تر هغه وخته پورې د شاوول سره وفادار پاتې شوي
وو. ۳۰ د افرايم د قبيلې څخه: ۲۰۸۰۰ تنه زړور جنګيالي چې په
خپلو خپلونو کې نوميالي وو؛ ۳۱ د لوېديځې منسي د قبيلې څخه:
۱۸۰۰۰ تنه د دې دپاره غوره شوي وو چې لاړ شي او داود پاچا
کړي؛ ۳۲ د يساکار د قبيلې څخه: ۲۰۰ مشران د خپلو وطندارانو
سره يو ځاى چې د هغوى د امر لاندې وو (دا مشران پوهېدل چې
اسراييل څه وکړي او په کوم وخت کې يې وکړي)؛ ۳۳ د زبولون د
قبيلې څخه: ۵۰۰۰۰ تنه وفادار او د اعتبار وړ کسان چې د جګړې
دپاره تيار وو او د هر ډول وسلې په کارولو پوهېدل؛ ۳۴ د نفتالي د
قبيلې څخه: ۱۰۰۰ تنه قوماندانان د ۳۷۰۰۰ کسانو سره يوځاى چې
سپرونه او نېزې ورسره وې؛ ۳۵ د دان د قبيلې څخه: ۲۸۶۰۰ تنه
چې د جګړې دپاره تيار وو؛ ۳۶ د اشير د قبيلې څخه: ۴۰۰۰۰ تنه
تجربه لرونکي عسکر چې د جګړې دپاره تيار وو؛ ۳۷ د روبين،
جاد او د ختيځې منسي د قبيلو څخه (هغه قبيلې چې د اردن د سيند
په ختيځ کې وې): ۱۲۰۰۰۰ تنه، چې په هر ډول وسلو سمبال شوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وو.

٣٨ دا ټول عسکر چې د جګړې دپاره تيار وو، حبرون ته لاړل.
هغوی ټينګه اراده درلودله چې داود په ټولو اسراييلو باندې پاچا
کړي. نو پاتې اسراييليان په دې خبره باندې راضي او خوښ وو.
٣٩ هغو عسکرو هلته د داود سره درې ورځې تېرې کړې او په
هغو خوړو او د څښاک په شيانو يې چې خپلو خپلوانو ورته تيار
کړي وو، ميلې کولې. ٤٠ د يساکار، زبولون او د نفتالي د شمالي
قبيلو پورې د لېرې لېرې ځايونو څخه خلک راتلل او خره، اوښان،
کچرې او غويان يې چې اوړه، د انځرو او د مميزو کلچې، د انګورو
شراب او د زيتونو تېل ورباندې بار وو، راوستل. هغوی پادې او رمې
هم راوستلې چې حلال يې کړي او ويې خوري. دا ټول د هغو
خوشحاليو څرګندونه وه چې په ټول هېواد کې احساسيدله.

## داود د لوظ صندوق اورشليم ته وړي

(دوهم سموييل ۶: ۱ – ۱۱)

١٣ ١ داود د خپلو لښکرو د قوماندانانو سره مشوره وکړه يعنې
د هغو سره چې د زر کسيزو فرقو او د سل کسيزو ټوليو قوماندانان
وو. ٢ داود د اسراييلو قوم ته وويل: «که ستاسو مشوره او زمونږ
د څښتن خدای رضا وي، نو اجازه راکړئ چې ټولو اسراييليانو ته
پيغام ولېږم او د خپلو ټولو هېوادوالو د کاهنانو او لاويانو په شمول
چې په ښارګوټو او د هغوی په څړځايونو کې دي، بلنه ورکړم چې
راشي او دلته زمونږ سره يوځای شي. ٣ بيا به لاړ شو او د خدای

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د لوظ صندوق به راوړو، ځکه چې د شاوول د پاچاهۍ په وخت کې
ورته پاملرنه نه وه شوې.»

۴ ټولو خلکو دا خبره ومنله چې دا سم وړاندیز دی او پرېکړه یې
وکړه چې همداسې وکړي.

۵ نو داود د ټول هېواد څخه د اسراييلو قوم راغونډ کړ، يعنې د
مصر د پولې څخه نيولې چې په جنوب کې ده د حمات د غاښې
پورې چې په شمال کې دی، د دې دپاره چې د خدای د لوظ
صندوق له قريه يعاريم څخه اورشليم ته راوړي.
۶ داود او ټول
اسراييليان د بعله ښار يعنې قريه يعاريم ته لاړل چې د يهودا په سيمه
کې دی، د دې دپاره چې د خدای د لوظ صندوق چې د څښتن نوم
ورباندې دی، راوړي – هغه څښتن چې تخت يې د اسماني مخلوقاتو
د مجسمو دپاسه دی.

۷ هغوی د ابيناداب د کور څخه د لوظ صندوق راوويست او په
يوې نوې ګاډۍ باندې يې کېښود. عزه او اخيو د ګاډۍ د لارښوونې
دپاره د هغې سره تلل
۸ او داود او ټولو خلکو په خپل ټول توان
سره خدای ته د درناوي په خاطر نڅا ګانې کولې. هغوی سندرې
ويلې او د موسيقۍ دغه آلې يې غږولې: ربابونه، چنګونه، چمبې،
تالونه او سرنې.

۹ څنګه چې دوی د کيدون درمند ځای ته ورسېدل، غويان
وښويېدل او عزه خپل لاس وراوږد کړ او د لوظ صندوق يې ونيوه.
۱۰ څښتن په عزه باندې ډېر په قهر شو او هغه يې وواژه، ځکه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د لوظ صندوق یې لمس کړ. هغه هلته د خدای په حضور کې مړ
شو. ۱۱ نو داود په قهر شو، ځکه چې څښتن په قهر سره عزه ته
سزا ورکړه او تر نن ورځې پورې هغه ځای د فارز عزه په نوم
یادیږي.

۱۲ په هغه ورځ داود د څښتن څخه ډېر ووېرېده او ویې ویل:
«اوس به څنګه وکولای شم چې د خدای د لوظ صندوق د ځان سره
یوسم؟» ۱۳ نو هغه صندوق د ځان سره د داود ښار ته یو نه وړ. د
هغې په ځای یې هغه د عوبید ادوم جتي کور ته یووړ.

۱۴ د خدای د لوظ صندوق درې میاشتې هلته پاتې شو او څښتن
د عوبید ادوم کورنۍ او هر هغه شي ته چې یې درلود برکت ورکړ.

## په اورشلیم کې د داود ماڼۍ او کورنۍ

(دوهم سموییل ۵: ۱۱ - ۱۶)

۱۴ ۱ نو بیا د صور پاچا حیرام، داود ته خپل استازي
ورولېږل، له هغوی سره ګلکاران او نجاران هم وو. هغوی د سبر د
ونو لرګي راوړل، ترڅو داود ته ماڼۍ جوړه کړي. ۲ نو داود پوه
شو چې څښتن د هغه پاچاهي په اسراییلو باندې ټینګه کړې ده او د
هغه پاچاهي د خپل قوم یعنې د اسراییلو په خاطر نېکمرغه کیږي.

۳ وروسته له دې چې داود اورشلیم ته کډه وکړه، هغه د نورو
ښځو سره ودونه وکړل او نور زامن او لورګانې یې وزیږېدلې. ۴
دا د داود اولادونه دي چې په اورشلیم کې زیږېدلي دي: شموع،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوباب، ناتان، سليمان، ٥ ايبحار، اليشوع، اليفالط، ٦ نوجه،
نفج، يافيع، ٧ اليشمع، بعلياداع او اليفلط.

## داود او د فلسطينيانو ماتې

(دوهم سموييل ۵: ۱۷ – ۲۵)

٨ کله چې فلسطينيانو واورېدل چې داود د اسراييلو په ټول هېواد
باندې د پاچا په توګه ټاکل شوی دی، هغوی د پوره قوت سره ووتل
چې داود ونيسي. خو داود د هغوی د پلان څخه خبر شو او لاړ چې
په جګړه کې ورسره مقابله وکړي. ٩ نو فلسطينيان راغلل او د
رفاييم په دره يې حمله وکړه.

١٠ داود د خدای نه پوښتنه وکړه: «ايا په فلسطينيانو باندې حمله
وکړم؟ ايا ماته به بری راکړې؟»

څښتن ځواب ورکړ: «هو، ورباندې حمله وکړه! زه به تاته بری
درکړم!»

١١ نو داود بعل فراسيم ته لاړ او هلته يې فلسطينيانو ته ماته
ورکړه. هغه وويل: «خدای زما په لاسونو د دښمنانو کرښې ماتې
کړې.» نو هغه ځای د بعل فراسيم په نوم ياد شو. ١٢ کله چې
فلسطينيان وتښتېدل، بيا داود خپلو لښکرو ته حکم ورکړ: «هغه بتان
چې له فلسطينيانو څخه پاتې شوي دي، وسوځوئ.»

١٣ څه موده وروسته فلسطينيان بېرته درې ته راستانه شول او بيا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې برید پیل کړ. ۱۴ داود یوځل بیا د خدای سره مشوره وکړه،
خدای ځواب ورکړ: «د دې ځای نه برید مه کوه، بلکې د شا له خوا
وربانديې راتاو شه او د بلسام ونو ته مخامخ په هغوی باندې برید
وکړه. ۱۵ کله چې دې د بلسام د ونو په سر کې د قدمونو اواز
واورېده، نو بیا په بیړه برید وکړه، ځکه چې دا به دا معنی ولري چې
زه ستا په مخکې روان یم چې د فلسطینیانو لښکرو ته ماتې ورکړم.»

۱۶ نو څنګه چې خدای داود ته حکم کړی ؤ، هماغسې یې وکړل
او فلسطینیان یې د جبعون نه تر جازر پورې په ټوله لاره کې تعقیب
کړل او ویې وژل.

۱۷ نو داود په ټولو هېوادونو کې مشهور شو او څښتن سبب شو
چې ټول قومونه له هغه څخه ووېرېږي.

## اورشلیم ته د لوظ د صندوق د راوړلو تیاری

۱۵ ۱ داود د خپل ځان دپاره د داود په ښار کې کورونه ودان
کړل. هغه د خدای د لوظ د صندوق دپاره هم یو ځای تیار کړ او یوه
خېمه یې د هغه دپاره ودروله. ۲ هغه وویل: «یوازې لاویان به دا
اجازه ولري چې د لوظ صندوق یوسي، ځکه چې څښتن هغوی
غوره کړي دي چې دا کار وکړي او تل د څښتن خدمت وکړي.»

۳ بیا داود د اسراییلو ټول قوم اورشلیم ته راوغوښت د دې دپاره
چې د لوظ صندوق هغه ځای ته راوړي چې د هغه دپاره یې تیار

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړی ؤ. ۴ هغه د هارون اولاده او لاویان هم یو ځای راغونډ
کړل. دا هغه لاویان وو چې د داود حضور ته راغلل: ۵ اوري ییل
چې د قهات د طایفې مشر ؤ او د هغه یوسلو شل تنه خپلوان؛ ۶
عسایا چې د مراري د طایفې مشر ؤ او د هغه دوه سوه او شل تنه
خپلوان؛ ۷ یوییل چې د جرشون د طایفې مشر ؤ او د هغه یو سل
او دېرش تنه خپلوان؛ ۸ شمعیه چې د الیصافان د طایفې مشر ؤ
او د هغه دوه سوه تنه خپلوان؛ ۹ ایلیییل چې د حبرون د طایفې
مشر ؤ او د هغه اتیا تنه خپلوان؛ ۱۰ او عمیناداب چې د عزییل د
طایفې مشر ؤ او د هغه یو سل او دولس تنه خپلوان.

۱۱ بیا داود صادوق او ابیاتار کاهنان او شپږ لاویان یعنې
اوري ییل، عسایا، یوییل، شمعیه، ایلیییل او عمیناداب راوغوښتل.
۱۲ هغه دغو لاویانو ته وویل: «تاسو د لاوي د طایفو مشران یئ.
تاسو او ستاسو ملګري خپل ځانونه پاک کړئ، ترڅو وکولای شئ
چې د اسراییلو د څښتن خدای د لوظ صندوق هغه ځای ته راوړئ
چې ما د هغه دپاره تیار کړی دی. ۱۳ دا چې د لومړي ځل دپاره
تاسو هلته نه وئ چې هغه یوسئ، زمونږ څښتن خدای مونږ ته سزا د
دې دپاره راکړه چې مونږ په مناسب ډول د هغه عبادت ونه کړ.»

۱۴ بیا کاهنانو او لاویانو خپل ځانونه پاک کړل. هغوی تیار شول
چې د اسراییلو د څښتن خدای د لوظ صندوق یوسي. ۱۵ لاویانو
دا صندوق د ستنو په واسطه په خپلو اوږو باندې یووړ لکه څنګه
چې څښتن د موسی په وسیله امر کړی ؤ.

۱۶ همدارنګه داود د لاویانو مشرانو ته وویل: «د خپلو خپلوانو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ثخه ځیني کسان وټاکئ چې د خوشحالی سندرې ووایي او چنګونه،
ربابونه او تالونه وغږوي.» ۱۷-۲۱ هغه سږي چې د زیږو تالونو د
غږولو دپاره غوره شول دا وو: د یوییل زوی هیمان، د هغه خپلوان
اساف چې د برکیا زوی ؤ او د قوشیا زوی ایتان چې د مراري د
طایفې ثخه ؤ. د هغوی سره د مرستې په خاطر یې دغه لاویان غوره
کړل چې د نري اواز چنګونه یې غږول: زکریا، یعزییل، شمیراموت،
یحییل، عوني، الیاب، معسیا او بنایاه. نورو چې د درند اواز ربابونه
یې غږول دا وو: متتیا، الیفلیا، مقنیا، عززیا او دوه د عبادت ځای
ساتونکي یعني عوبید ادوم او یعییل.

۲۲ کننیا د لاوي سازغږوونکو مسوول وټاکل شو، ځکه چې هغه
په خپله یو تکړه سازغږوونکی ؤ.

۲۳-۲۴ بیا د لوظ د صندوق د ساتلو دپاره څلور لاویان وټاکل
شول. هغه لاویان دا وو: برکیا، القانه، عوبید ادوم او یحیا.

په پای کې د دې دپاره کاهنان غوره شول چې د لوظ د صندوق
مخې ته سرني وغږوي. هغه کاهنان دا وو: شبنیا، یوشافاط، نتنییل،
عماسای، زکریا، بنایاه او الیعازر.

## اورشلیم ته د لوظ د صندوق راوړل

(دوهم سموییل ۶: ۱۲ – ۲۲)

۲۵ نو داود، د اسراییلو مشران او د لښکرو قوماندانان لاړل چې د
څښتن د لوظ صندوق د عوبید ادوم له کوره د جشن په نیولو سره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوړي. ۲۶ له دې کبله چې څښتن د لوظ د صندوق په وړلو کې له
لاويانو سره مرسته وکړه، نو هغوی اووه غويان او اووه پسونه قرباني
کړل.

۲۷ داود او هغو لاويانو چې صندوق يې لېږداوه، کننيا د موسيقۍ
مسوول او ټولو سندرغاړو د ښه کتان چپنې اغوستې وې او داود هم
د کتان پېشبند اغوستی ؤ. ۲۸ نو ټولو اسراييليانو د خوشحالۍ په
چيغو او د سرنيو، تالونو، چنګونو او له ربابونو په غږولو سره د
څښتن د لوظ صندوق اورشليم ته راوړ.

۲۹ کله چې صندوق د داود ښار ته راوړل شو، د شاوول لور
ميکال د کړکۍ څخه وکتل او ويې ليدل چې داود پاچا د خوشحالۍ
څخه ټوپونه وهي او نڅا کوي، نو هغه يې په خپل زړه کې سپک
وګاڼه.

## په خېمه کې د لوظ د صندوق اېښودل

۱۶ ۱ هغوی د خدای د لوظ صندوق په هغې خېمې کې
کېښود چې داود د هغه دپاره ودرولې وه، بيا يې سوځېدونکې نذرانې
او د سولې نذرانې خدای ته وړاندې کړې. ۲ کله چې داود د
نذرانو د وړاندې کولو څخه وزګار شو، هغه د خلکو دپاره د څښتن
په نوم برکت وغوښت. ۳ هغه د اسراييلو ټولو خلکو، هم سړيو او
هم ښځو، هر يو ته يوه ډوډۍ، يوه ټوټه غوښه او د مميزو يوه کلچه
ووېشله.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ داود ځينې لاويان د دې دپاره وټاکل چې د لوظ صندوق په
مخکې خدمت وکړي. هغوی به د اسراييلو څښتن خدای یاداوه، د
هغه شکر به يې ادا کاوه او ستاينه به يې کوله. ۵ اساف د هغوی
مشر ؤ او زکريا د هغه مرستيال ؤ. يعييل، شميراموت، يحييل، متتيا،
الياب، بناياه، عوبيد ادوم او يو بل سړی چې يعييل نومېده د دې دپاره
ټاکل شوي وو چې چنګونه او ربابونه وغږوي. اساف په خپله تالونه
غږول ۶ او دوو کاهنانو يعنې بناياه او يحزييل به پرله پسې د لوظ
د صندوق په مخکې سرني غږول.

## د داود د ستاينې سندره

۷ داود په هغه ورځ د لومړي ځل دپاره اساف او د هغه ورونو ته
وظيفه ورکړه چې د څښتن په حضور کې د هغه د ستاينې دا سندره
ووايي:

۸ کوئ شکر د څښتن

او د هغه په نوم دعا کوئ!

نورو قومونو ته دا ووايئ

څه چې هغه کړي دي

۹ هغه ته حمد ووايئ

ووايئ هغه ته د ثنا او صفت سندره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه چې کړي عجيبه کارونه

کړئ يې بيان خلکو ته

۱۰ په پاک نوم د هغه وکړئ افتخار

وي دې خوشحاله څوک چې کاندي عبادت د هغه

۱۱ وغواړئ کومک له څښتنه

وکړئ عبادت يې تل

۱۲-۱۳ اى د يعقوب يعني د خداى د خدمتګار اولادې

اى د يعقوب اولادې تاسو کړئ غوره څښتن

کړئ تاسې يادې معجزې لويې چې کړې هغه

هم کړئ راياد قضاوتونه چې هغه کړي وو

۱۴ دى څښتن زمونږه خداى

راولي چې عدالت د ځمکې سر باندې هرځاى

۱۵ تاسې هېر نه کړئ د خداى لوظ هېڅکله

نه کړئ وعده د هغه هېره تر زرو نسلونو پورې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٦ هغه لوظ چې هغه وکړ ابراهیم سره

هغه قسم چې هغه وکړ د اسحاق سره

١٧ هغه یې ورکړلو یعقوب ته د یو حکم په شان

او اسراییلو ته د ابدي لوظ په توګه

١٨ هغه وویل: «تاسو ته در به کړم وطن د کنعان

وي به هغه د ستاسو خپل ملکیت»

١٩ کله چې شمېر د خدای د خلکو کم ؤ

وو پردي د کنعان خاوره کې دوی

٢٠ دوی سرګردانه ګرځېدل به یو بل وطن کې

تلل یو او بلې پاچاهۍ ته هغوی

٢١ خو خدای پرېنښودل هېڅوک چې په دوی ظلم وکړي

د دوی دپاره یې شاهان ورټل:

٢٢ هغوی ته یې وویل:

«زما غوره شویو بنده ګانو ته به لاس نه وروړئ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ضرر به نه رسوئ زما پيغمبرانو ته»

۲۳ ای ټولې نړی، سندره ووايئ ښښتن ته تاسې

اعلان کړئ هره ورځ دا زيری

چې نجات يې دی راکړی مونږ ته

۲۴ قومونو ته اعلان کړئ جلال د هغه

ټولو خلکو ته اعلان کړئ

د هغه ډېر عجيبه کارونه

۲۵ ځکه چې لوی دی ښښتن

او ډېر لايق دی د ثنا او صفت

ټولو خدايانو نه دې زياته وېره وشي د ده

۲۶ نورو قومونو ټول خدايان دي بې ګټې بتان

خو ښښتن دي پيدا کړي اسمانونه

۲۷ دي راچاپېره جلال او لويي له هغه څخه

د اوسېدو ځای د هغه ډک دی د خوښۍ او قوت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ وکړئ ستاینه د ښښتن په ځمکه ټولو خلکو

هم ستاینه وکړئ د هغه د جلال او قدرت

۲۹ د ښښتن د جلالي نوم ستاینه وکړئ

راشئ حضور ته د هغه او نذرانه راوړئ

کړئ ښښتن ته عبادت په سپېڅلې توګه

۳۰ ای ټولې ځمکې ولړزېږه د هغه په مخکې

نړی يې ټينګه درولې چې خوځېږي نه

۳۱ پرېږده خوشحاله اسمانونه شي او ځمکه وکړي خوښي

او هم قومونه کړئ خبر چې ښښتن پاچا دی!

۳۲ شي درياب په غړمبار دې خپلو ټولو مخلوقاتو سره

شي دې خوشحاله پټي هم ټولو فصلونو سره

۳۳ د خوښی چيغې به بيا ووهي ځنګل کې ونې

کله چې راشي د ځمکې قضاوت ته ښښتن

۳۴ د ښښتن شکر کوئ، ځکه چې نېک دی هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ده ابدي د هغه مينه

۳۵ هغه ته ووايئ: «وژغوره مونږ ای خدايه

ته زمونږ ژغورونکيه خدايه

مونږ يو ځای سره راغونډ کړه،

ومو ژغوره له قومونو

ترڅو ادا کړو مونږه شکر د ستا

ستا د سپېڅلي نوم ثنا مو وياړ شي»

۳۶ ثنا او صفت دې وي د اسراييلو څښتن خدای ته

وکړئ ثنا او صفت يې د ازل نه تر ابده پورې

بيا ټولو خلکو وويل: «امين» او د څښتن ثنا او صفت يې وکړ.

## په اورشليم او په جبعون کې عبادت

۳۷ داود اساف او د هغه د طايفې لاويان د دې دپاره غوره کړل
چې په هغه ځای کې د ورځني عبادت مسؤولان شي چېرته چې د
لوظ صندوق ساتل کېده. ۳۸ عوبيد ادوم او د هغه اته شپېته خپلوان
د هغوی مرستيالان وو او حوسه او د يدوتون زوی عوبيد ادوم
ساتونکي وو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۹ داود صادوق کاهن او د هغه خپلوان چې کاهنان وو، هم غوره
کړل چې د جبعون د عبادت په ځای کې د څښتن په سپېڅلي خېمه
کې خدمت وکړي. ۴۰ هغوی به هر سهار او ماښام د قربانۍ په
ځای باندې سوځېدونکې نذرانې وړاندې کولې. دا د هغه شریعت سره
سم ؤ چې څښتن اسراییلیانو ته ورکړی ؤ. ۴۱ هیمان او یدوتون د
هغوی مرستیالان وو او همدارنګه هغه نور سړي چې په ځانګړې
توګه د دې دپاره غوره شوي وو چې د څښتن د تلپاتې مینې دپاره د
هغه شکر وکړي. ۴۲ هیمان او یدوتون د دې کار مسوولیت هم په
غاړه درلود چې سرنې، تالونه او نورې د موسیقۍ آلې د سندرو د
ویلو په وخت کې وغږوي. هغه لاویان چې د یدوتون زامن وو، د
دروازې د ساتلو مسؤولان وو.

۴۳ د مراسمو نه وروسته هر یو خپل کور ته لاړ او داود هم د دې
دپاره کور ته راستون شو چې د خپلې کورنۍ دپاره برکت وغواړي.

## له داود سره د څښتن وعده

(دوهم سموییل ۷: ۱ – ۱۷)

# ۱۷

۱ وروسته له دې چې داود خپلې ماڼۍ ته کډه وکړه، هغه
ناتان نبي ته وویل: «ګوره، زه دلته په دې ماڼۍ کې اوسېږم چې د
سبر د ونې د لرګیو څخه جوړه شوې ده، خو د څښتن د لوظ صندوق
په خېمه کې ایښودل شوی دی.»

۲ ناتان ځواب ورکړ: «هرڅه چې ستا په زړه کې دي هغه وکړه،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې خدای ستا سره مل دی.»

۳ خو په هم هغه شپه څښتن ناتان ته وویل: ۴ «لاړ شه او
زما خدمتګار داود ته ووایه چې څښتن داسې وايي: ته هغه څوک نه
يې چې زما د اوسېدلو دپاره کور جوړ کړې. ۵ له هغه وخته چې
ما د اسراييلو قوم د مصر څخه راخلاص کړ، تر نن ورځې پورې زه
په کور کې نه یم اوسېدلی. هر چېرته چې زه د هغوی سره تللم، خېمه
به زما کور ؤ. ۶ ما د قوم مشران غوره کړل او ورته مې وويل
چې د شپنو په شان زما د قوم اسراييلو لارښوونه وکړي. خو ایا کله
مې د هغوی څخه چاته په ټول سفر کې ويلي دي چې د سبر د ونې
د لرګیو څخه دې ولې زما دپاره کور نه دی جوړ کړی؟

۷ نو په دې خاطر زما خدمتګار داود ته ووایه چې مطلق قادر
څښتن درته داسې وايي: ماته د پسونو د ساتلو د څرځای څخه
راواخیستلې او د خپل قوم اسراييلو مشر مې وټاکلې. ۸ هر چېرې
چې ته تللې، زه به درسره وم. څنګه به چې ته پرمخ تللې، ما به ستا
ټول دښمنان له منځه وړل. اوس به تاته يو نوم درکړم لکه څنګه چې
مې د نړۍ ډېرو لويو مشرانو ته ورکړی دی.

۹-۱۰ ما د خپل قوم اسراييلو دپاره ځای وټاکه او هغوی مې
هلته ځای په ځای کړل، ترڅو هلته واوسيږي او نور وربانديې ظلم
ونه شي. له هغه وخته چې مې قاضيان يعنې مشران د اسراييلو دپاره
ټاکلي دي په هغوی باندې د بدکاره خلکو له خوا تېری شوی دی. بيا
به داسې ونه شي. زه وعده کوم چې ستا ټولو دښمنانو ته به ماتې
ورکړم او تاته به يوه شاهي کورنۍ درکړم. ۱۱ هغه ورځ چې ستا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سترګې د دې نړۍ څخه پټې شوې او د خپلو نیکونو سره ښخ شوې،
زه به ستا د زامنو څخه یو پاچا کړم او د هغه پاچاهي به ټینګه
وساتم. ۱۲ هغه به هغه څوک وي چې زما دپاره به یو کور جوړ
کړي او د هغه پاچاهي به زه د تل دپاره ټینګه کړم. ۱۳ زه به د هغه
پلار یم او هغه به زما زوی وي. زه به خپله تلپاتې مینه ورنه لېرې نه
کړم لکه څنګه چې مې د شاوول نه لېرې کړې وه، څوک چې ستا نه
مخکې پاچا ؤ. ۱۴ زه به د تل دپاره ستا زوی د خپل قوم او
پاچاهۍ مشر کړم. د هغه پادشاهي به هېڅکله پای ته ونه رسیږي.»

۱۵ ناتان داود ته هر هغه څه بیان کړل چې خدای ورته په رویا
کې ښکاره کړي وو.

## د داود د شکراني دعا

(دوهم سموییل ۷: ۱۸ – ۲۹)

۱۶ بیا داود پاچا د لوظ د صندوق خېمې ته ورننوت، هلته د
څښتن په حضور کې کښېناست او دعا يې وکړه: «ای څښتن خدایه!
هغه څه چې تا پخوا زما سره کړي دي زه او زما کورنۍ د هغې وړ نه
یو. ۱۷ خو بیاهم دا ستا په نظر کافي نه وو! تا د راتلونکو ډېرو
کلونو دپاره هم زما د اولادې یعني شاهي کورنۍ په هکله وعدې
کړې دي. ای څښتن خدایه، ته له ما سره داسې چلند کوې لکه زه
چې یو ډېر مهم سړی یم. ۱۸ زه ستا خدمتګار یم او ته مې پېژنې.
زه نور څه ویلی شم؟ تا زما درناوی کړی دی! ۱۹ ای څښتنه! زما
په خاطر او د خپل مقصد دپاره دې دا ټول لوی کارونه وکړل او هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې ښکاره کړل.

۲۰ څښتنه، هېڅوک ستا په شان نه دی. لکه څنګه چې مونږ تل
اورېدلي دي، بې له تا بل خدای نشته. ۲۱ د ځمکې په مخ د
اسراییلو په شان بل قوم نشته، هغه قوم چې تا هغوی د مصر د غلامۍ
څخه وژغورل، د دې دپاره چې هغه ستا خپل قوم شي. د هغوی
دپاره دې لوی او حیرانوونکي کارونه وکړل او خپل نوم دې په ټوله
نړۍ کې مشهور او لوړ کړ. تا خپل قوم اسراییل د مصر څخه وژغوره
او د هغه د وړاندې تګ سره سم دې نور قومونه وشړل. ۲۲
اسراییل دې د تل دپاره خپل قوم غوره کړ او ای څښتنه، ته د هغوی
خدای شوې.

۲۳ ای څښتنه! اوس هغه وعده د تل دپاره سرته ورسوه چې زما
او زما د کورنۍ سره دې کړې ده. هغه څه چې دې ویلي وو،
هماغسې وکړه. ۲۴ ستا نوم به لوی وي او خلک به د تل دپاره
وایي: مطلق قادر څښتن د اسراییلو خدای دی. بیا به زما د اولادې
پاچاهي د تل دپاره ټینګه وي. ۲۵ دا ټول تا ماته ښکاره کړي دي
او ماته دې وویل چې زما اولاده به ته پاچاهان کړې، نو ځکه مې ای
خدایه دا جرات وکړ چې تاته دا دعا وکړم.

۲۶ څښتنه، ته په رښتیا خدای یې او تا د خپل خدمتګار سره د
دې ښو شیانو وعده کړې ده. ۲۷ اوس مهرباني وکړه زما کورنۍ ته
د تل دپاره برکت ورکړه او پرېږده چې هغوی تل ستا غوره شوي
پاچاهان وي. څښتنه، تا پخوا زما کورنۍ ته برکت ورکړی ؤ او زه
پوهېږم چې ته به مونږ ته د تل دپاره برکت راکړې.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د داود بریالیتوبونه

(دوهم سمویل ۸: ۱ – ۱۴)

۱۸ ۱ څه موده وروسته داود بیا فلسطینیانو ته ماتې ورکړه او
هغوی یې کمزوري کړل. د هغوی څخه یې د جت ښار او د هغه د
شاوخوا کلي ونیول.

۲ داود موآبیانو ته هم ماتې ورکړه، نو هغوی د هغه رعیت شول
او باج به یې ورکاوه.

۳ په داسې حال کې چې د صوبې د پاچا هددعزر د فرات د سیند
پورتنۍ سیمې ته روان ؤ چې د هغه ځای واکمن شي، داود د حمات
په پوله هغه ته ماتې ورکړه. ۴ داود د هغه څخه زر جنګې ګاډۍ،
اووه زره سپاره او شل زره پیاده عسکر ونیول. هغه د سلو جنګې
ګاډیو دپاره اسونه وساتل او نور ټول یې ګوډ کړل.

۵ کله چې د دمشق سوریایانو د هددعزر پاچا د مرستې دپاره
لښکر ورولیږه، داود په هغوی باندې حمله وکړه او دوه ویشت زره
سوریایان یې ووژل. ۶ بیا هغه د دمشق د سورېې په پاچاهۍ کې
عسکري قرارګاوې جوړې کړې او سوریایان د هغه رعیت شول او
باج یې ورکاوه. هر چېرته چې به داود لاړ، څښتن هغه ته بری
ورکاوه.

۷ داود د هددعزر د عسکري منصبدارانو د سرو زرو سپرونه
واخیستل او هغه یې اورشلیم ته راوړل. ۸ داود د طبحت او کونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څخه چې د هددعزر ښارونه وو په زياته اندازه برنجي فلز لاسته
راوړل. وروسته سليمان د دې برنجو څخه د خداى د کور د اوبو د
ټانکى، ستنو او برنجي لوښو په جوړولو کې کار واخيست.

٩ د حمات پاچا توعو واورېدل چې داود د هددعزر ټول لښکر
ته ماتې ورکړې ده. ١٠ نو هغه خپل زوى هدورام، داود پاچا ته
ورولېږه چې هغه ته سلام ووايي او په جګړه کې په هددعزر باندې د
هغه د برياليتوب مبارکي ووايي. هددعزر څو ځلې له توعو سره
جنګېدلى ؤ. هدورام داود ته هر ډول سوغاتونه يعنې د سرو زرو،
سپينو زرو او برنجي شيان له ځان سره راوړل. ١١ داود پاچا هغه
سامان د هغو سپينو او سرو زرو سره يوځاى څښتن ته وقف کړل
چې د ادوميانو، موآبيانو، عمونيانو، فلسطينيانو او عماليقيانو څخه يې
د برې په وخت کې نيولي وو.

١٢ د زرويه زوى ابيشاى د مالګې په دره کې د ادوميانو لښکرو ته
ماتې ورکړه او د هغوى د لښکرو اتلس زره تنه يې ووژل. ١٣ هغه
په ټول ادوم کې عسکري قرارګاوې جوړې کړې او ټول ادوميان د
داود رعيت شول. داود به چې هر چېرته لاړ، څښتن به ورته برى
ورکاوه.

## د داود درباريان

(دوهم سموييل ٨: ١٥ – ١٨)

١٤ داود په ټولو اسراييلو باندې پاچاهي کوله او د خپلو ټولو
خلکو دپاره يې په عدل او انصاف سره کارونه کول.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ یوآب د زرویه زوی د لښکرو عمومي قوماندان ؤ. یهوشافاط د
اخیلود زوی د پېښو د ثبتولو مسوول ؤ.

۱۶ صادوق د اخیطوب زوی او اخیملک د ابیاتار زوی کاهنان وو.
شوشا د دربار منشي ؤ.

۱۷ بنایاه د یهویاداع زوی د داود د ساتونکو ګارډ یعنې د کریتیانو
او د فلیتیانو قوماندان ؤ او د داود زامن د هغه لومړي مرستیالان وو.

## د داود له خوا د عمونیانو او سوریایانو ماتې

(دوهم سموییل ۱۰: ۱ – ۱۹)

۱۹ ۱ څه موده وروسته د عمونیانو پاچا ناحاش مړ شو او د
هغه زوی حانون د هغه په ځای پاچا شو. ۲ داود پاچا وویل:
«زه به د حانون سره داسې وفادارانه دوستي وکړم لکه څنګه چې د
هغه پلار ناحاش زما سره کړې وه.» نو داود خپل استازي ولېږل چې
د خپل ځان له خوا خواخوږي ووايي.

خو کله چې هغوی عمون ته ورسېدل او د حانون پاچا سره یې
رسمي کتنه وکړه، ۳ د عمونیانو مشرانو حانون پاچا ته وویل: «ایا
تاسو فکر کوئ چې داود په ربښتیا دا استازي ستاسو پلار ته د عزت
ورکولو دپاره رالېږلي دي؟ ایا هغه ستاسو سره دومره خواخوږي
لري؟ البته چې نه! هغوی یې دلته د جاسوسۍ دپاره رالېږلي چې
زمونږ هېواد وګوري، ترڅو هغه فتح کړي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ نو حانون د داود استازي ونیول، د هغوی ږیرې یې وخریلې،
کالي یې د پښنو نه تر ملا پورې وشکول او رخصت یې کړل. ۵
هغوی ډېر شرمېدل چې کور ته راستانه شي. کله چې داود له دې
پېښې څخه خبر شو، نو هغوی ته یې خبر ورولېږه: «تر هغې پورې د
اریحا په ښار کې پاتې شئ چې ستاسو ږیرې اوږدې شي او بیا بېرته
کور ته راشئ.»

۶ حانون پاچا او عمونیان په دې پوه شول چې هغوی داود خپل
دښمن کړ. نو هغوی څلوردېرش ټنه سپین زر ولېږل د دې دپاره چې
د بین النهرین، د سورېې د معکه او د صوبه له سیمو څخه جنګي
ګاډۍ او د هغو چلوونکي اجیر کړي. ۷ دوه دېرش زره جنګي
ګاډۍ او د معکه پاچا او د هغه لښکرې راغلې او د میدبا سره نژدې
یې خېمې ودرولې. د عمونیانو لښکرې هم له خپلو ښارګوټو څخه د
جګړې دپاره راټولې شولې.

۸ داود د دې نه خبر شو او یوآب یې له ټول لښکر سره د هغوی
مقابلې ته ورولېږه. ۹ عمونیان راووتل او د خپل پایتخت ربه د
دروازې په خوله کې ځای په ځای شول. د سورېې لښکرې په صحرا
کې ځای په ځای شوې.

۱۰ یوآب ولیدل چې د دښمن لښکر به په هغه باندې مخامخ او د
شا له خوا برید وکړ، نو هغه د اسراییلو د عسکرو څخه ډېر ښه
عسکر وټاکل او هغوی یې سوریایانو ته مخامخ ځای په ځای کړل.
۱۱ یوآب د خپلو لښکرو پاتې کسان د خپل ورور ابیشای تر
قوماندې لاندې ورکړل او ابیشای هغوی د عمونیانو په مقابل کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځای په ځای کړل. ١٢ یوآب هغه ته وویل: «که چېرې تا ولیدل
چې سوریایانو ماته ماتې راکوله، نو راشه او زما سره مرسته وکړه او
که چېرې عمونیانو تاته ماتې درکوله، نو زه به ستا مرستې دپاره
درشم. ١٣ قوي او زړور اوسه! راځه چې د خپل قوم او د خدای د
ښارونو دپاره په مېړانه او زړورتیا سره وجنګېږو. څه چې د ښښتن
رضا وي هغه دې وشي!»

١٤ نو یوآب او د هغه سړي مخکې لاړل چې برید وکړي او
سوریایان وتښتېدل. ١٥ کله چې عمونیانو ولیدل چې سوریایان
تښتي، هغوی د ابیشای څخه وتښتېدل او ښار ته ننوتل. بیا یوآب
اورشلیم ته راستون شو.

١٦ کله چې سوریایان پوه شول چې دوی ته اسراییلو ماتې ورکړه،
هغوی خپل هغه عسکر راوغوښتل چې د فرات د سیند په ختیځه
خوا کې ځای په ځای شوي وو. د هددعزر د لښکرو قوماندان
شوفک دا سړي عمون ته بوتلل. ١٧ کله چې داود دا واورېدل، هغه
د اسراییلو ټولې لښکرې سره راغونډې کړې، د اردن د سیند نه تېر
شو او خپل عسکر یې د سوریایانو لښکرو ته مخامخ ځای په ځای
کړل.

جګړه پیل شوه، ١٨ خو د سوریایانو لښکرې د اسراییلیانو څخه
وتښتېدلې. داود اووه زره د جنګي ګاډیو چلوونکي او څلوېښت زره
پیاده عسکر ووژل. هغه شوفک هم وواژه چې د هغوی قوماندان ؤ.

١٩ هغه پاچاهان چې د هددعزر تابع وو، کله چې هغوی ولیدل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د اسراییلو له خوا یې ماتې وخوړله، نو د داود سره یې سوله
وکړه او د هغه رعیت شول. سوریایانو نه غوښتل چې بیا د عمونیانو
سره مرسته وکړي.

## د ربه فتح

(دوهم سموییل ۱۱: ۱، ۱۲: ۲۶ – ۳۱)

**۲۰** ۱ د بل کال په پسرلي، یعني د کال په هغه وخت کې چې
اکثره وخت پاچاهان جګړې ته ځي، د اسراییلو لښکر د یوآب تر
قوماندې لاندې حرکت وکړ او د عمون هېواد یې وران کړ. هغه د ربه
ښار کلابند کړ، بیا یې ورباندې برید وکړ او په کنډوالو یې بدل کړ.
خو داود په اورشلیم کې پاتې شو.

۲ وروسته داود د ربې ښار ته راغی. هلته یې د عموني پاچا د
سر نه د سرو زرو تاج واخیست او په خپل سر یې کېښود. یوه قیمتي
تیږه په کې وه او خبر شو چې د تاج وزن شاوخوا څلوردېرش
کیلوګرامه ؤ. همدارنګه هغه د هغه ښار نه په زیاته اندازه غنیمت
لاسته راوړ. ۳ د هغه ځای خلک یې راوویستل، هغوی یې په
ارو، کلنګونو او تبرونو سمبال او په سختو کارونو باندې یې وټاکل.
داود د عمون د ټولو ښارونو د خلکو سره همدغه شان عمل وکړ.
وروسته بیا داود او د هغه ټول لښکر اورشلیم ته ستانه شول.

## د فلسطیني جنګیالیو سره جګړه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(دوهم سموییل ۲۱: ۱۵ – ۲۲)

۴ یو څه موده وروسته په جازر کې د فلسطینیانو سره جګړه
رامنځته شوه. د دې جګړې په دوران کې حوشاتي سبکای د رافا د
لوړ قدو اولادې څخه یو تن چې سفای نومېد وواژه او فلسطینیانو
ماتې وخوړه.

۵ د فلسطینیانو سره په یوه بله جګړه کې د یاییر زوی الحانان،
لحمي وواژه. لحمي د جلیات ورور ؤ او له جت څخه ؤ. د لحمي
سره یوه نېزه وه چې د هغې لاستی د اوبدلو د دستګاه د میلې په شان
ؤ.

۶ وروسته بیا په جت کې یوه بله جګړه وشوه. په هغه ځای کې
یو لوړ قدی سړی ؤ چې لاسونو او پښنو یې شپږ، شپږ ګوتې درلودلې
چې ټولې څلورویشت ګوتې وې، هغه هم د رافا د لوړ قدو له اولادې
څخه ؤ. ۷ کله چې هغه اسراییلیانو ته پېغور ورکړ، د داود وراره
یوناتان چې د شمعا زوی ؤ هغه یې وواژه.

۸ دغه درې تنه په جت کې د رافا د لوړ قدو اولادې څخه وو او
هغوی د داود او د هغه د سړیو له خوا ووژل شول.

## داود او سر شمېرنه

(دوهم سموییل ۲۴: ۱ – ۲۵)

۲۱ ۱ شیطان غوښتل چې د اسراییلو په قوم باندې مصیبت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راولي، نو هغه داود راوپاراوه چې د اسراییلو سر شمېرنه وکړي. ٢
داود یوآب او د لښکرو قوماندانانو ته وویل: «په اسراییلو کې هر یو
تن په جنوب کې له بیرشبع څخه په شمال کې تر دان پورې
وشمېرئ. بیا ماته راپور راوړئ چې زه پوه شم څومره خلک دي.»

٣ یوآب په ځواب کې وویل: «څښتن دې د اسراییلو د قوم شمېر
له اوسني شمېره سل چنده زیات کړي! اعلیحضرته، هغوی ټول ستا
خدمتګاران دي. ولې ته ټول قوم ګناهکاروې؟»

٤ خو پاچا یوآب مجبور کړ چې د هغه امر ته غاړه کېږدي. نو
یوآب لاړ، د اسراییلو په هر ګوټ کې وګرځېد او بیا هغه اورشلیم ته
راستون شو. ٥ یوآب، پاچا ته د هغو سړیو د شمېر راپور ورکړ
چې جګړه یې کولای شوه. په اسراییلو کې یو میلیون او یو لک تنه
وو او په یهودا کې څلور لکه اویا زره تنه وو. ٦ یوآب د لاوي او
د بنیامین قبیلې په سرشمېرنې کې راګډې نه کړې، ځکه چې د هغه
دپاره دا سرشمېرنه د کرکې وړ وه.

٧ خدای په دې کار په قهر شو، نو هغه اسراییلو ته سزا ورکړه.
٨ داود خدای ته وویل: «په دې کار سره ما ډېره سخته ګناه
وکړه! زه تاته زاري کوم چې د خپل غلام ګناه وبخښه، ځکه چې ما
ډېر د کم عقلتوب کار کړی دی.»

٩ څښتن جاد ته چې د داود نبي ؤ، وویل: ١٠ «لاړ شه او داود
ته ووایه چې څښتن داسې وایي: زه تاته د درېو سزاګانو د ټاکلو واک
درکوم، له هغو څخه یوه وټاکه چې په تا یې عملي کړم.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ نو جاد داود ته ورغی او ورته ویې ویل: «څښتن داسې وايي:
د خپل ځان دپاره له دې درېو سزاګانو څخه یوه غوره کړه: ۱۲
درې کاله به قحطي وي، یا به درې میاشتې له خپلو دښمنانو تښتې،
یا به درې ورځې څښتن د خپلې فرښتې په وسیله ستا په ټوله ځمکه
باندې وبا نازله کړي چې د اسراییلو خلکو ته تباهي راولي. اوس د
دې په هکله پرېکړه وکړه چې زه ستا ځواب څښتن ته ورسوم.»

۱۳ داود جاد ته په ځواب کې وویل: «زه په ډېر لوی مصیبت کې
یم، خو نه غواړم چې د خلکو له خوا سزا ووینم. پرېږده چې څښتن
په خپله ماته سزا راکړي، ځکه چې هغه ډېر مهربان او رحیم دی.»

۱۴ نو څښتن په اسراییلو باندې وبا نازله کړه او اویا زره تنه یې
مړه شول. ۱۵ بیا هغه فرښته راولېږله چې د اورشلیم ښار وران
کړي. خو څښتن خپله اراده بدله کړه او هغې فرښتې ته یې وویل:
«ودرېږه! بس دی! دوی کافي ستونزه وزغمله.» دا په داسې وخت
کې پېښ شو کله چې فرښته د یبوسي ارونه له درمند ځای سره
ولاړه وه.

۱۶ داود د څښتن فرښته په هوا کې ولاړه ولیده چې په اورشلیم
باندې یې توره نیولې وه. هغه او د اسراییلو مشرانو چې ټولو د ویر
کالي اغوستي وو، په سجده شول. ۱۷ داود دعا وکړه: «دا زما ګناه
ده! ما د دې حکم په ورکولو سره چې خلک دې وشمېرل شي، لویه
ګناه کړې ده. دا خلک لکه د بې ګناه پسونو په شان دي. ای زما
څښتن خدایه، مهرباني وکړه ما او زما کورنۍ ته سزا راکړه. مه پرېږده
چې دا وبا ستا قوم تباه کړي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ د ښښتن فرښتې جاد نبي ته وويل: «داود ته دا خبره وکړه چې
هغه باید د یبوسي ارونه درمند ځای ته لاړ شي او د ښښتن دپاره د
قربانۍ ځای جوړ کړي.» ۱۹ نو داود لکه څنګه چې ښښتن د جاد
په وسیله امر کړی ؤ هغه ځای ته لاړ.

۲۰ په هغه وخت کې ارونه او د هغه څلورو زامنو غنم ټکول او کله
یې چې فرښته ولیده، د ارونه څلورو زامنو منډه کړه چې پټ شي.
۲۱ څنګه چې ارونه، داود پاچا ولید چې راورسېد، نو هغه د درمند
له ځای نه لاړ او د پاچا په مخکې د درناوي په خاطر ټیټ شو.

۲۲ داود وویل: «ایا خپل درمند ځای به په ما خرڅ کړې، ترڅو
ښښتن ته وربانديې د قربانۍ ځای جوړ کړم؟ ځکه زه غواړم چې وبا
بنده شي. زه حاضر یم چې پوره بیه یې درکړم.»

۲۳ ارونه داود ته وویل: «دا واخلئ، اعلیحضرته او هرڅه چې
وربانديې کوئ ویې کړئ. زه به تاسو ته د سوځېدونکو نذرانو دپاره
غویان او د غلو دانو د نذرانې دپاره غنم درکړم. تاسو کولای شئ
چې د غوبل کولو له څیرونو څخه د اور دپاره کار واخلئ. زه تاسو
ته دا ټول وړیا درکوم!»

۲۴ خو داود په ځواب کې وویل: «نه! زه په دې باندې ټینګار کوم
چې د هغو پوره بیه درکړم. زه نه شم کولای چې ستا څخه یو څه
واخلم او بیا ښښتن ته یوه داسې قرباني وړاندې کړم چې ماته وړیا
تمامه شوې وي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ نو داود اروونه ته د درمند ځای په بدل کې شپږ سوه مثقاله سره
زر ورکړل. ۲۶ هغه هلته خښتن ته د قربانۍ ځای جوړ کړ او
سوځېدونکې او د سولې نذرانې یې وړاندې کړې. هغه دعا وکړه او
خښتن یې په ځواب کې د اسمان نه د قربانۍ په ځای باندې اور نازل
کړ چې قرباني وسوځوي. ۲۷ بیا خښتن په فرښتې باندې امر وکړ
چې توره بېرته په خپل غلاف کې کېږدي. نو هغې اطاعت وکړ.

۲۸ کله چې داود ولیدل چې خښتن د هغه دعا منلې ده، هغه هلته
په درمند ځای کې نورې قربانۍ وړاندې کړې. ۲۹ په دې وخت
کې هغه سپېڅلې خېمه چې موسی په دښته کې جوړه کړې وه او هغه
د قربانۍ ځای چې سوځېدونکې نذرانېورباندې سوځېدلې لا د
جبعون په عبادت ځای کې وو. ۳۰ خو داود جرات نه کاوه چې
خدای ته د عبادت کولو دپاره هلته لاړ شي، ځکه چې هغه د خښتن
د فرښتې له تورې شخه وېرېده.

۲۲ ۱ نو داود وویل: «دلته به د خښتن خدای کور او د قربانۍ
ځای وي چې باید د اسراییلو قوم سوځېدونکې نذرانې وړاندې
کړي.»

## د خدای د کور د ودانولو دپاره تیاری

۲ داود هغو بېګانه خلکو ته چې په اسراییلو کې اوسېدل، حکم
وکړ چې راغونډ شي. هغه ځینو ته دا وظیفه وسپارله چې د خدای د
کور د ودانولو دپاره تیږې پرې او تیارې کړي. ۳ هغه ډېره اوسپنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوړه چې د دروازو دپاره ورشخه مېخونه او چپراسونه جوړ کړي او دومره برنج يې تيار کړل چې نه تلل کېدل. ۴ داود بې شمېره د سبر د ونو لرګي تيار کړل، کوم چې د صور او صيدون خلکو هغه ته راوړي وو. ۵ داود د ځان سره وويل: «هغه کور چې زما زوی سليمان يې د څښتن دپاره ودانوي، بايد ډېر ښکلی، پرتمين او په نړۍ کې مشهور وي. خو هغه ځوان او بې تجربه دی، نو زه بايد د څښتن د کور دپاره تياری ونيسم.» نو داود د خپلې مړينې مخکې په زياته اندازه مواد تيار کړل.

۶ بيا داود خپل زوی سليمان راوغوښت او امر يې ورباندې وکړ چې د اسراييلو د څښتن خدای دپاره کور ودان کړي. ۷ هغه ووېل: «زما زويه، ما غوښتل چې يو کور ودان کړم چې زما د څښتن خدای عبادت په کې وشي. ۸ خو څښتن راته وويل چې داوده، تا ډېر خلک وژلي او ډېرې جګړې دې کړې دي. له دې امله به ته زما کور نه ودانوې، ځکه چې تا ډېره وينه تويه کړې ده. ۹ خو ته به يو زوی ولرې چې په سوله کې به پاچاهي وکړي، ځکه چې زه به هغه ته د هغه له شاوخوا ټولو دښمنانو سره سوله ور په برخه کړم. د هغه نوم به سليمان يعنې سوله وي، ځکه چې زه به د هغه د پاچاهۍ په دوران کې اسراييلو ته سوله او امنيت ور په برخه کړم. ۱۰ سليمان به زما د عبادت دپاره کور ودان کړي. هغه به زما زوی وي او زه به د هغه پلار يم او زه به د هغه او د هغه د اولادې پاچاهي په اسراييلو باندې تل ټينګه وساتم.»

۱۱ داود زياته کړه: «اوس زما زويه، ستا څښتن خدای دې ستا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره مل شي او څنګه چې هغه وعده کړې ده، د هغه د کور د ودانولو
دپاره دې تا بريالی کړي. ۱۲ کله چې ستا څښتن خدای تا د
اسراييلو پاچا کړي، هغه دې پوهه او حکمت درکړي، ترڅو ته د هغه
د حکمونو او شريعت پيروي وکړې. ۱۳ که چېرې ته د هغو ټولو
قوانينو اطاعت وکړې چې څښتن موسی ته د اسراييلو دپاره ورکړي
دي، ته به بريالی شې. قوي او زړور اوسه، جرات له لاسه مه ورکوه
او د څه شي څخه مه وېرېږه.

۱۴ ما په ډېرو هڅو سره درې زره او څلور سوه ټنه سره زر،
څلوردېرش زره ټنه سپين زر، په کافي اندازه لرګي، تيږې او دومره
برنج او اوسپنه چې زه يې تللی نه شم د خدای د کور د ودانولو دپاره
تيار کړي دي. ته کولای شې چې نور لرګي او تيږې هم تيارې کړې.
۱۵ ته ډېر کارګران لرې. داسې خلک شته چې تيږې پرې کوي او
هغه ږدي. ګلکاران، نجاران او داسې بې شمېره کسبګران هم شته چې
۱۶ د سرو او سپينو زرو، برنجو او د اوسپنې په کار کې مهارت
لري. اوس په کار پيل وکړه او زه دعا کوم چې څښتن دې له تا سره
مل وي.»

۱۷ بيا داود د اسراييلو ټولو مشرانو ته حکم وکړ چې د سليمان
سره مرسته وکړي. ۱۸ داود وويل: «ستاسو څښتن خدای ستاسو
سره مل دی او د هرې خوا څخه يې تاسو ته سوله در په برخه کړې
ده. هغه ماته په هغو ټولو خلکو باندې چې په دې ځمکه کې اوسېدل
برى راکړ او هغوی اوس د څښتن او د هغه د قوم د لاس لاندې دي.
۱۹ نو اوس خپل ځانونه د زړه له کومې د خپل څښتن خدای په
لټه کې وقف کړئ. د هغه په سپېڅلي کور باندې کار پيل کړئ چې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ثښتن د درنښت دپاره دی، ترڅو د لوښي صندوق او هغه سپېڅلي
شیان په کې وساتل شي چې د عبادت دپاره ورڅخه کار اخیستل
کېږي.»

## د لاویانو دندې

# ۲۳
١ کله چې داود ډېر زوړ شو، نو خپل زوی سلیمان یې د
اسراییلو پاچا وټاکه.

٢ داود د اسراییلو ټول مشران او همدارنګه کاهنان او لاویان یو
ځای راوغوښتل. ٣ بیا داود هغه لاویان وشمېرل چې عمرونه یې
لږ تر لږه دېرش کاله وو او د هغوی ټولو شمېر اته دېرشو زرو تنو ته
ورسېده. ٤ هغه وویل: «څلورویشت زره لاویان به د ښتن د
کور د کار څارنه کوي، شپږ زره به مامورین او قاضیان وي، ٥
څلور زره تنه به د دروازو ساتونکي وي او څلور زره تنه نور به د
موسیقۍ د آلو په غږولو سره چې ما د دې مقصد دپاره ورکړې دي، د
ښتن ستاینه کوي.»

٦ بیا داود لاویان د هغوی د قبیلو له مخې په دریو ډلو ووېشل:
جرشون، قهات او مراري.

٧ جرشون دوه زامن درلودل: لعدان او شمعي. ٨ لعدان درې
زامن درلودل: یحییل، زیتام او یوییل. ٩ دا د هغو طایفو مشران
وو چې د لعدان له اولادې څخه وو. شمعي درې زامن درلودل:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شلوميت، حزييل او هاران. ۱۰-۱۱ وروسته د شمعي څلور نور
زامن د هغوی د عمر له مخې دا وو: يحت، زينا، يعوش او بريعه. خو
يعوش او بريعه ډېر اولادونه نه درلودل، نو د هغوی اولاده د يوې
کورنۍ په توګه وشمېرل شوه.

۱۲ قهات څلور زامن درلودل: عمرام، يزهار، حبرون او عزييل.
۱۳ عمرام د هارون او د موسی پلار ؤ. هارون او د هغه اولادونه د
ټولو سپېڅلو شيانو مسؤولان غوره شوي وو. هغوی څښتن ته د
خوشبويۍ په سوځولو او خلکو ته د هغه په نوم د برکت په ورکولو
سره د څښتن خدمت کاوه. ۱۴-۱۵ د خدای نبي موسی د
جرشون او د اليعازر پلار ؤ او هغوی لاويان ګڼل کېدل. ۱۶ د
جرشون په زامنو کې مشر يې شبوييل ؤ. ۱۷ اليعازر يوازې يو
زوی درلود چې رحبيا نومېده، خو رحبيا ډېر اولادونه درلودل.

۱۸ د قهات دوهم زوی يزهار نومېده او د هغه مشر زوی، شلوميت
د خپلې طايفې مشر ؤ. ۱۹ د قهات درېيم زوی حبرون، څلور زامن
درلودل: يريا، امريا، يحزييل او يقمعام. ۲۰ د قهات کشر زوی
عزييل، دوه زامن درلودل: ميکا او يشيه.

۲۱ مراري دوه زامن درلودل: محلي او موشي. محلي د العازار او د
قيس پلار ؤ. ۲۲ العازار هيڅ زامن نه درلودل، يوازې لونړې يې
درلودلې او هغوی د خپل تره يعنې د قيس د زامنو سره ودونه وکړل.
۲۳ د مراري دوهم زوی موشي درې زامن درلودل: محلي، عيدر او
يريموت.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۴ دا د لاوي اولاده وه چې طايفه په طايفه او کورنۍ په کورنۍ
يې د هر يو نوم ثبت شوی ؤ. د هغه له اولادې څخه هرڅوک چې د
شلو يا له شلو څخه د زياتو کالو په عمر ؤ، د څښتن د کور په کار
کې يې برخه درلوده.

۲۵ داود وويل: «د اسراييلو څښتن خدای خپل قوم ته سوله ور په
برخه کړې ده او هغه به هم په اورشليم کې د تل دپاره واوسيږي.
۲۶ نو لاويان به نور دې ته مجبور نه وي چې سپېڅلې خېمه او
هغه شيان د يو ځای نه بل ځای ته يوسي چې د عبادت دپاره
ورڅخه کار اخيستل کيږي.» ۲۷ د داود د وروستنۍ لارښوونې له
مخې د ټولو لاويانو نومونه چې د شلو کالو عمر ته رسېدل، د خدمت
دپاره ثبتېدل. ۲۸ دا لاندې وظيفې لاويانو ته سپارل کېدلې: هغوی
به د هارون د اولادې سره د څښتن د کور په چارو کې مرسته کوله
چې د کور په حويلۍ او کوټو باندې پام وکړي او په دې باندې ځان
پوه کړي چې هرڅه چې په عبادت کې ورڅخه کار اخيستل کيږي،
بايد پاک وساتل شي. ۲۹ هغوی د هغې ډوډۍ مسؤولان وو چې
خدای ته وړاندې کېدله، د غلې دانې د نذرانې دپاره د اوړو، د فطيرې
نرۍ ډوډۍ، هره نذرانه چې د ډوډۍ په شان پخيدله او د هغو اوړو
مسؤولان هم وو چې د زيتونو د تېلو سره ګډېدل. دغو لاويانو به دا
نذرانې تللې او اندازه کولې.

۳۰ لاويانو به هر سهار او ماښام د څښتن شکر ادا کاوه او د
ستاينې سندرې به يې ورته ويلې. ۳۱ هغوی به هغه وخت هم شکر
ادا کاوه او د ستاينې سندرې به يې ويلې کله چې د هر سبت په ورځ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې قرباني وړاندې کېدلې او همدارنګه به يې د نوې مياشتې په
اخترونو او د نورو ديني اخترونو په دوران کې همداسې کول. لاويانو
ته دا وظيفه ورسپارل شوې وه چې په منظم ډول د څښتن عبادت
وکړي. لاويان مجبور وو چې تل په کافي اندازه سړي وټاکي چې د
څښتن په کور کې خپله وظيفه تر سره کړي، د دې دپاره چې د اړتيا
وړ کار سرته ورسيږي. ۳۲ هغوی ته دا مسووليت ور په غاړه شو
چې په سپېڅلې خېمې او د څښتن په کور باندې پام وکړي او د هغو
کاهنانو سره چې د هارون د اولادې او د هغوی له خپلوانو وو، د
څښتن د کور په ټولو چارو کې مرسته وکړي.

## د کاهنانو دندې

# ۲۴

۱ د هارون اولاده په لاندېنيو ډلو وېشل شوې وه.

هارون څلور زامن درلودل چې ناداب، ابيهو، العازار او ايتامار
نومېدل. ۲ خو ناداب او ابيهو د خپل پلار نه مخکې مړه شول او
زامن يې نه درلودل. له دې امله العازار او ايتامار د کاهنانو په توګه
خدمت کاوه.

۳ داود د هارون اولاده د هغوی له وظيفو سره سم په ډلو کې
تنظيم کړه. صادوق چې د العازار له اولادې څخه ؤ او اخيملک چې
د ايتامار له اولادې څخه ؤ، هغوی د داود سره مرسته کوله.

۴ د العازار اولاده په شپاړسو ډلو او د ايتامار اولاده په اتو ډلو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووېشل شوه، ځکه چې د العازار د کورنيو مشران زيات وو. ۵ د
هرې ډلې وظيفه د پچې له مخې ځرګندېده، ترڅو د دوی په منځ کې
اختلاف پيدا نه شي، ځکه چې د دواړو ډلو (العازار او ايتامار)
مامورانو او روحاني مشرانو د خدای په کور کې خدمت کاوه.

۶ د العازار او ايتامار اولادې په خپل وار سره پچې واچولې. بيا د
نتنييل زوی شمعيه چې د لاويانو يو منشي ؤ د هغوی نومونه ثبتول.
داود پاچا، د هغه درباريان، صادوق کاهن، د ابياتار زوی اخيملک او
د کاهنانو او د لاويانو د کورنيو مشران ټول د دې کار شاهدان وو.

۷-۱۸ د کاهنانو هره ډله د خپلې کورنۍ د مشر په نوم لاړه او د
پچې له مخې په لاندينې ترتيب سره هغوی ته خپلې وظيفې وسپارل
شوې: يهوياريب، يدعيا، حاريم، سعوريم، ملکيا، ميامين، هقوس، ابيا،
يشوع، شکنيا، الياشيب، ياقيم، حفه، يشباب، بلجه، يمير، حيزير،
هفسيس، فتحيا، يحزقييل، ياکين، جامول، دلايا او معزيا. ۱۹ دغو
کسانو ته د څښتن په کور کې خپلې وظيفې وروسپارل شوې، لکه
څنګه چې د اسراييلو څښتن خدای د هغوی په نيکه يعنې هارون
باندې امر کړی ؤ.

## پاتې لاويان

۲۰ دا د لاوي د نورې اولادې لست دی:
عمرام د شوباييل نيکه او شوباييل د يحديا نيکه ؤ.
۲۱ رحبيا د يشيه نيکه ؤ او يشيه د خپلې کورنۍ مشر ؤ.
۲۲ يزهار د شلوموت نيکه او شلوموت د يحت نيکه ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۳ حبرون څلور زامن درلودل چې په لاندې ډول وو:
یریا، امریا، یحزییل او یقمعام.
۲۴ عزییل د میکا او میکا د شامیر نیکه ؤ.
۲۵ د میکا ورور یشیه د زکریا نیکه ؤ.
۲۶ مراري د محلي، موشي او د یعزیا پلار ؤ. یعزیا د بنو
پلار ؤ.
۲۷ یعزیا څلور زامن درلودل چې بنو، شوهم، زکور او
عبري نومېدل.
۲۸-۲۹ محلي د العازار او د قیس پلار ؤ. العازار هېڅ
زامن نه درلودل، خو قیس د یرحمییل پلار ؤ.
۳۰ موشي درې زامن درلودل چې محلي، عیدر او
یریموت نومېدل.

دا د لاوي اولاده وه د هغوی د خپلو طایفو له مخې. ۳۱ لکه د
هارون د اولادې په شان، هغوی هم د پچې له مخې د داود پاچا،
صادوق، اخیملک او د کاهنانو او د لاویانو د کورنیو د مشرانو په
حضور، پرته له کوم ویشه او تبعیضه چې څوک مشر دی او څوک
کشر دی، وټاکل شول.

## د خدای د کور سازغږوونکي او سندرغاړي

# ۲۵

۱ داود او عسکري قوماندانانو د اساف، هیمان او د
یدوتون ځینې اولاده غوره کړه چې د عبادت د چارو مشري په غاړه
واخلي: هغوی به د خدای پیغامونه اعلانول او ربابونه، چنګونه او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تالونه به يې غږول. دا د ساز غږوونکو او سندرغاړو او د هغوی د وظيفو لست دی:

٢ د اساف څلور زامن يعنې زکور، يوسف، نتنيا او اشريېله د خپل پلار تر لارښوونې لاندې کار کاوه. اساف د پاچا تر حکم لاندې د خدای پيغامونه اعلانول.

٣ يدوتون شپږ زامن درلودل چې جدليا، صري، اشعيا، شمعي، حشبيا او متتيا نومېدل. هغوی د خپل پلار تر لارښودنې لاندې د خدای پيغامونه اعلانول. هغوی ربابونه غږول او څښتن ته يې د ستاينې او شکرګزارۍ سندرې ويلې.

٤ هيمان څوارلس زامن درلودل چې نومونه يې دا وو: بقيا، متنيا، عزيېل، شبوييل، يريموت، حننيا، حناني، الياته، جدلتي، روممتي عزر، يشبقاشه، ملوتي، هوتير او محزيوت. ٥ خدای د خپلې وعدې سره سم د پاچا نبي هيمان ته څوارلس زامن او درې لوڼې ورکړې، د دې دپاره چې هغه ته وياړ وروبخښي. ٦ د هغه ټولو زامنو د خپل پلار تر لارښودنې لاندې د څښتن په کور کې د عبادت دپاره تالونه، چنګونه او ربابونه غږول. اساف، يدوتون او هيمان د پاچا د حکم لاندې کار کاوه.

٧ دا پورته څلورويشت نومړي کسان د هغوی د خپلوانو په شان روزل شوي وو او دې ټولو په هغې موسيقۍ کې مهارت درلود چې د څښتن دپاره وه. د هغوی شمېر ٢٨٨ تنو ته رسېده. ٨ ځوانانو او زړو، ښوونکو او زده کوونکو يو شان خپلې وظيفې د پچې له مخې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وټاکلې.

٩ دا ۲۸۸ ساز غږوونکي او سندرغاړي د کورنيو له مخې په
څلورويشت ډلو او دولس کسيزو ډلو باندې ووېشل شول او هرې
ډلې يو مشر درلود چې د هماغې ډلې مسوول ؤ. څنګه چې د هغوی
پچې وختلې، نو د هغوی وظيفې په دې ډول څرګندې شوې: لومړنی
پچه د اساف د کورنۍ څخه د يوسف په نامه، دوهمه د جدليا او د
هغه د دولسو زامنو او ورونو په نامه، ١٠ دريمه پچه د زکور او د
هغه د دولسو زامنو او ورونو په نامه، ١١ څلورمه پچه د يزري او د
هغه د دولسو زامنو او ورونو په نامه، ١٢ پنځمه پچه د نتنيا او د
هغه د دولسو زامنو او ورونو په نامه، ١٣ شپږمه پچه د بقيا او د
هغه د دولسو زامنو او ورونو په نامه، ١٤ اوومه پچه د يشرييله او د
هغه د دولسو زامنو او ورونو په نامه، ١٥ اتمه پچه د اشعيا او د هغه
د دولسو زامنو او ورونو په نامه، ١٦ نهمه پچه د متنيا او د هغه د
دولسو زامنو او ورونو په نامه، ١٧ لسمه پچه د شمعي او د هغه د
دولسو زامنو او ورونو په نامه، ١٨ يوولسمه پچه د عزييل او د هغه
د دولسو زامنو او ورونو په نامه، ١٩ دولسمه پچه د حشبيا او د
هغه د دولسو زامنو او ورونو په نامه، ٢٠ ديارلسمه پچه د شوباييل
او د هغه د دولسو زامنو او ورونو په نامه، ٢١ څوارلسمه پچه د
متتيا او د هغه د دولسو زامنو او ورونو په نامه، ٢٢ پنځلسمه پچه د
يريموت او د هغه د دولسو زامنو او ورونو په نامه، ٢٣ شپاړسمه
پچه د حننيا او د هغه د دولسو زامنو او ورونو په نامه، ٢٤ اوولسمه
پچه د يشبقاشه او د هغه د دولسو زامنو او ورونو په نامه، ٢٥
اتلسمه پچه د حناني او د هغه د دولسو زامنو او ورونو په نامه، ٢٦

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نولسمه پچه د ملوتي او د هغه د دولسو زامنو او وروڼو په نامه، ۲۷
شلمه پچه د الیاته او د هغه د دولسو زامنو او وروڼو په نامه، ۲۸
یوویشتمه پچه د هوتیر او د هغه د دولسو زامنو او وروڼو په نامه،
۲۹ دوه ویشتمه پچه د جدلتي او د هغه د دولسو زامنو او وروڼو په
نامه، ۳۰ درویشتمه پچه د محزیوت او د هغه د دولسو زامنو او
وروڼو په نامه ۳۱ او څلورویشتمه پچه د روممتي عزر او د هغه د
دولسو زامنو او وروڼو په نامه.

## د خدای د کور ساتونکي

۲۶ ۱ د خدای د کور ساتونکي هم د طایفو له مخې په ډلو
وویشل شول.

د قوري زوی مشلمیا د قوري د طایفې او د اساف د کورنۍ څخه ؤ.

۲ هغه اووه زامن درلودل چې په لاندیني ترتیب سره زیږېدلي وو:
زکریا، یدیعییل، زبدیا، یتنی ییل، ۳ عیلام، یهوحانان او
الیهوعینای.

۴-۵ خدای عوبید ادوم ته د اتو زامنو په ورکولو سره برکت
ورکړ. نومونه یې په ترتیب سره دا وو: شمعیه، یهوزاباد، یوآخ، ساکار،
نتنییل، عمیییل، یساکار او فعلتای.

۶-۷ د هغه زوی شمعیه شپږ زامن درلودل: عتني، رفاییل،
عوبید، الزاباد، الیهو او سمکیا. هغوی د خپل زیات لیاقت له امله په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو طايفو کې مشران وو، وروستني دوه تنه په ځانګړي ډول د
لياقت خاوندان وو.

٨ د عوبيد ادوم دوه شپېته اولادې وې. هغوی ټول لايق او قوي
سړي وو، نو له دې کبله هغوی د خدای په کور کې ساتونکي شول.

٩ د مشلميا لايق زامن او خپلوان چې شمېر يې اتلسو تنو ته
رسېده، د همدې کار دپاره غوره شول.

١٠-١١ د مراري له طايفې څخه حوسه څلور زامن درلودل:
شمري، حلقيا، طبليا او زکريا. پلار يې شمري د کورنۍ مشر وټاکه،
که څه هم هغه يې مشر زوی نه ؤ. د حوسه له کورنۍ څخه ديارلس
تنه غوره شول چې د خدای د کور ساتونکي شي.

١٢ ساتونکي د خپلو کورنيو له مشرانو سره سم په ډلو ووېشل
شول او د نورو لاويانو په شان هغوی ته د خدای په کور کې وظيفې
وروسپارل شوې. ١٣ هرې کورنۍ پچې واچولې، دا ضوري نه وه
چې شمېر يې څومره ؤ، د دې دپاره چې ووينې چې د کومې دروازې
مسووليت به د کومې کورنۍ په غاړه شي.

١٤ شلميا ته ختيځه دروازه په پچه ورسېدله. د هغه زوی زکريا ته،
چې يو ښه او پوه مشاور ؤ د شمال خوا دروازه په پچه ورسېدله.
١٥ عوبيد ادوم ته جنوبي دروازه په پچه ورسېدله او د تحويلخانو
مسووليت د هغه د زامنو په غاړه شو. ١٦ شفيم او حوسه ته
لوېديځه دروازه او د شلکت هغه دروازه په پچه ورسېدله چې په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاسني سرک باندې وه. د ساتنې وظيفه په وار سره له يو څخه بل ته
سپارل کېده. ۱۷ هره ورځ به شپږ ساتونکو د خدای د کور ختيځې،
څلورو تنو به شمال او څلورو تنو به د خدای د کور جنوب خواته
وظيفه تر سره کوله. دوه دوه ساتونکي به يې په هره تحويلخانه کې
ودرول، ۱۸ څلور تنه يې د هغه سرک په اوږدو کې ودرول چې
لوېديځې برنډې ته غزېدلی ؤ او دوه ساتونکي به په خپله حوېلۍ کې
پاتې کېدل.

۱۹ دا د هغو ساتونکو وظيفې وې چې د قورح او مراري د طايفو
څخه وو.

## خزانه داران او نور مامورين

۲۰ د هغوی نور لاوي ورونه د خدای د کور د خزانې او د هغو
تحويلخانو مسؤولان وو، چې خدای ته په کې وقف شوې سوغاتونه
ساتل کېدل.

۲۱ لادان د جرشون له طايفې څخه ؤ او د يحييلي پلار ؤ. د هغه
نوره اولاده په طايفه کې د کورنيو مشران وو. ۲۲ يحييلي د زيتام
او يوييل پلار ؤ او هغوی د خدای د کور د خزانې او تحويلخانو
مسؤولان وو.

۲۳ د عمرام، يزهار، حبرون او د عزييل اولادې ته هم وظيفې
وروسپارل شوې.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۴ شوبابیل د موسی د زوی یعنې د جرشون یوه اولاده وه. هغه د
خدای د کور د خزانې او تحویلخانو مشر مسوول ؤ. ۲۵ هغه د
جرشون د ورور الیعازر په وسیله په شلومیت پورې اړه درلوده.
الیعازر د رحبیا پلار ؤ. رحبیا د یشیه پلار، یشیه د یورام پلار، یورام
د زکري پلار او زکري د شلومیت پلار ؤ.

۲۶ شلومیت او د هغه خپلوان د هغو سوغاتونو د تحویلخانو
مسؤولان وو چې څښتن ته وقف کېدل. په هغو کې هغه سوغاتونه هم
شامل وو چې داود پاچا وقف کړي وو، همدارنګه هغه سوغاتونه چې
د کورنیو مشرانو او د لوړو او د ټیټو رتبو عسکري قوماندانانو وقف
کړي وو. ۲۷ هغوی یو څه غنیمت چې په جګړه کې یې نیولی ؤ، د
څښتن د کور د بیاجوړونې دپاره وقف کړ. ۲۸ شلومیت او د هغه
خپلوانو د هغو سوغاتونو مسوولیت په غاړه درلود چې سموییل نبي،
د قیس زوی شاوول پاچا، د نیر زوی ابنیر او د زرویه زوی یوآب د
خدای کور ته وقف کړي وو.

۲۹ د یزهار د طایفې څخه کننیا او د هغه زامن د اسراییلیانو دپاره
مامورین او قاضیان وو. هغوی د خدای په کور کې کار نه کاوه.

۳۰ د حبرون له طایفې څخه حشبیا او د هغه یو زر او اووه سوه
تکړه خپلوان د اسراییلو په هغې سیمې کې د دیني او حکومتي چارو
مسؤولان وو چې د اردن د سیند په لوېدیځه غاړه کې پرته وه.

۳۱-۳۲ د شجرې له مخې یریا د حبرون د طایفې مشر ؤ. داود
هغه او د هغه دوه زره اووه سوه خپلوانو ته چې ټول د کورنیو تکړه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مشران وو دا وظیفه وروسپارله چې د روبین، جاد او د ختیځې منسي
په قبیلو کې د ټولو دیني او دولتي چارو مسوولیت ولري. داود د
خپلې پاچاهۍ د څلوېښتم کال په دوران کې کله چې د حبرون په
طایفه کې د ټولو کورنیو څېړنه وشوه، د دغو سړیو په هکله معلومات
تر لاسه کړل. هغوی د جلعاد له سیمې د یعزیر له ښارګوټي څخه وو.

## د لښکرو قوماندانان

٢٧ ١ د اسراییلو لښکرې د دولسو فرقو څخه جوړې شوې
وې چې په هغو کې د کورنیو مشران، د لښکرو قوماندانان او د پاچا
درباریان شامل وو. هره فرقه له څلورویشتو زرو کسانو څخه جوړه
شوې وه چې په نوبت سره یې په کال کې یوه میاشت خدمت کاوه. دا
د هغو قوماندانانو لست دی چې عسکرو به په ترتیب سره د میاشتنې
خدمت دپاره رابلل:

٢ په لومړۍ میاشت کې د زبدي ییل زوی یشوبعام، ٣
چې د فارص له اولادې څخه ؤ.
٤ په دوهمه میاشت کې اخوخي دودای چې مرستیال یې
مقلوت ؤ.
٥ په درېمه میاشت کې د یهویاداع کاهن زوی بنایاه؛
٦ هغه یو جنګیالی ؤ او د دېرشو جنګیالیو مشر ؤ. د هغه
د فرقې مسوول د هغه زوی عمیزاباد ؤ.
٧ په څلورمه میاشت کې د یوآب ورور عساهیل چې
وروسته د هغه زوی زبدیا د هغه په ځای قوماندان شو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ په پنځمه میاشت کې د یزراح له طایفې څخه شمهوت.
۹ په شپږمه میاشت کې د عقیش زوی عیرا له تقوع څخه.
۱۰ په اوومه میاشت کې حالز فلوني د افرایم له قبیلې څخه.
۱۱ په اتمه میاشت کې حوشاتي سبکای د زارح له طایفې څخه.
۱۲ په نهمه میاشت کې د بنیامین په سیمه کې ابیعزر له عناتوت څخه.
۱۳ په لسمه میاشت کې نطوفاتي مهرای د زارح له طایفې څخه.
۱۴ په یوولسمه میاشت کې د افرایم په سیمه کې بنایاه له فرعاتون څخه.
۱۵ په دولسمه میاشت کې نطوفاتي خلدای، چې د عتنییل یوه اولاده وه.

## د قبیلو مشران

۱۶-۲۲ دا د هغو مشرانو لست دی چې په اسراییلو کې د هرې قبیلې مسؤولان وو:

د زکري زوی الیعازر د روبین د قبیلې مسوول ؤ؛ د معکه زوی شفطیا د شمعون د قبیلې مسوول ؤ؛ د قموییل زوی حشبیا د لاوي د قبیلې مسوول ؤ او صادوق کاهن د هارون د اولادې مسوول ؤ؛ د داود پاچا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یو ورور یعنې الیهو د یهودا د قبیلې مسوول ؤ؛ د میکاییل زوی عمري
د یساکار د قبیلې مسوول ؤ؛ د عوبدیا زوی یشمعیا د زبولون د قبیلې
مسوول ؤ؛ د عزرییل زوی یریموت د نفتالي د قبیلې مسوول ؤ؛ د
عززیا زوی هوشع د افرایم د قبیلې مسوول ؤ؛ د فدایا زوی یوییل د
لوېدیځې منسي د قبیلې مسوول ؤ؛ د زکریا زوی عیدو د ختیځې
منسي د قبیلې مسوول ؤ؛ د ابنیر زوی یعسي ییل د بنیامین د قبیلې
مسوول ؤ او د یروحام زوی عزرییل د دان د قبیلې مسوول ؤ.

۲۳ د ښبنتن د هغې وعدې له مخې چې هغه به د اسراییلو قوم د
اسمان د ستورو په شان ډېر کړي، نو داود پاچا د هغو خلکو
سرشمېرنه ونه کړه چې عمرونه یې شل او یا له شلو کالو ښخه لږ وو.
۲۴ یوآب د زرویه زوی په سرشمېرنې پیل وکړ، خو هغه دا کار
سرته ونه رساوه. ځکه خدای اسراییلو ته د دې سرشمېرنې له امله
سزا ورکړه، نو وروستنی شمېر هېڅکله د داود د پاچاهی د تاریخ په
رسمي کتاب کې ثبت نه شو.

## د پاچا د شتمنی ناظران

۲۵ د عدیییل زوی عزموت د پاچا د شاهي ګودامونو مسوول ؤ. د
عزیا زوی یوناتان د پاچا د نورو تحویلخانو چې په بنارګوټو، کلیو او
د ښارني په برجونو کې وې، مسوول ؤ.

۲۶ د کلوب زوی عزري د هغو کارګرانو مسوول ؤ چې د پاچا په
کروندو کې یې کښت کاوه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٧ له رامه څخه شمعي د انګورو د تاکونو مسوول ؤ او له شفام

څخه زبدي د انګورو د شرابو د زېرمه کولو مسوول ؤ.

٢٨ له جدر څخه بعل حانان د غرونو په لوېديځو لمنو کې د زيتونو

د تېلو او د انځر د ونو مسوول ؤ او يوآش د زيتونو د تېلو د زېرمه

کولو مسوول ؤ.

٢٩ له شارون څخه شطرای د هغو پادو مسووليت په غاړه درلود

چې د شارون په ډاګونو کې څرېدلې او د عدلائي زوی شافاط د هغو

پادو مسووليت په غاړه درلود چې په درو کې ساتل کېدلې.

٣٠ اسماعيلي عوبيل د اوښانو مسوول ؤ او د ميرونوت څخه

يحديای د خرو مسوول ؤ. ٣١ هاجري يازيز د رمو مسوول ؤ.

دا پورته ذکر شوي کسان د داود پاچا د شتمنۍ ناظران وو.

## د داود ځانګړي مشاوران

٣٢ د داود پاچا تره يوناتان يو پوه مشاور او عالم ؤ. هغه او د

حکموني زوی يحيیل د پاچا د زامنو ښوونکي وو.

٣٣ اخيتوفل د پاچا مشاور ؤ او ارکي حوشای د پاچا ملګری او

مشاور هم ؤ. ٣٤ له اخيتوفل څخه وروسته د بناياه زوی يهوياداع

او ابياتار مشاوران شول.

يوآب د پاچا د لښکرو عمومي قوماندان ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## داود او د خدای د کور د ودانولو نقشه

٢٨ ١ داود پاچا د اسراییلو ټول مشران یعنې د قبیلو مشران، د
هغو فرقو قوماندانان چې د پاچا خدمت به یې کاوه، د لښکرو نور
قوماندانان، د شاهي شتمنۍ او د څارویو رسمي مسؤولان، د ماڼۍ
درباریان او زړور جنګیالي – په اورشلیم کې راغونډ کړل.

٢ داود د هغوی مخې ته ودرېده او داسې وینا یې ورته وکړه:
«زما ورونو او زما د قوم خلکو! ما غوښتل چې د لوظ د صندوق
دپاره یو تلپاتې کور ودان کړم، یعنې هغه صندوق چې زمونږ د څښتن
خدای د پښو ایښودلو د چوکۍ دپاره وي. ما د کور د ودانولو دپاره
چې د هغه د عزت دپاره دی، تیاری نیولی دی. ٣ خو خدای ماته
وویل: ته زما کور نه شې جوړولی، ځکه چې ته یو جنګیالی یې او
ډېره وینه دې تویه کړې ده. ٤ بیاهم د اسراییلو څښتن خدای زه
او زما اولاده د دې دپاره غوره کړي یو چې د تل دپاره په اسراییلو
باندې پاچاهي وکړو. هغه یهودا د دې دپاره غوره کړ چې په اسراییلو
کې مشره قبیله شي. بیا څښتن له یهودا څخه زما د پلار کورنۍ غوره
کړه او رضا یې دا وه چې د هغې کورنۍ څخه زه د ټولو اسراییلو
پاچا شم. ٥ څښتن راته ډېر زامن راکړل او له هغوی ټولو څخه
یې سلیمان غوره کړ چې زما په ځای اسراییلو پاچا شي. ٦
څښتن ماته وویل: ستا زوی سلیمان به زما کور ودان کړي. ما هغه
غوره کړی دی چې هغه به زما زوی او زه به د هغه پلار یم. ٧ که
چېرې هغه تل زما د حکمونو او قوانینو پوره اطاعت وکړي، لکه
څنګه چې یې اوس کوي، زه به د هغه پاچاهي د تل دپاره ټینګه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وساتم.

۸ زما خلکو، تاسو د څښتن د قوم څخه يئ چې دلته له ټولو
اسراييلو څخه راغونډ شوي يئ. اوس خدای شاهد دی او تاسو هم
شاهدان يئ، زه غواړم چې تاسو دا وعده وکړئ چې د څښتن خدای
د هر امر اطاعت به په غور سره کوئ. بيا به دا ځمکه ستاسو وي او
تاسو کولای شئ چې دا د تل دپاره راتلونکو نسلونو ته د ميراث په
توګه پرېږدئ.

۹ زما زويه سليمانه، زما خدای وپېژنه او د زړه له کومي او په
خپلې رضا سره د هغه خدمت کوه. هغه ستا د ټولو فکرونو او
خيالونو څخه خبر دی، نو که چېرې د هغه په لټه کې اوسې، هغه به
پيدا کړې. خو که چېرې د هغه څخه مخ وګرځوې، هغه به د تل دپاره
تا رد کړي. ۱۰ ته بايد په دې پوه شې چې څښتن د دې دپاره
غوره کړی يې چې د هغه د عبادت کولو دپاره کور ودان کړې. ډاډه
اوسه او هغه کار وکړه چې تاته درسپارل شوی دی.»

۱۱ وروسته له دې چې د داود خبرې پای ته ورسېدلې، هغه
سليمان ته د خدای د کور د ودانولو نقشې ورکړې چې په کې برنډه،
تحويلخانې، د دوهم پوړ او دننۍ کوټې او ډېر سپېڅلی ځای شامل ؤ
چېرته چې د ګناه دپاره کفاره ادا کېږي. ۱۲ هغه سليمان ته د
څښتن د کور د ګردچاپېره حويليو او کوټو دپاره خپلې ټولې نقشې
ورکړې او د هغو کوټو دپاره يې هم نقشې ورکړې چې د کور خزانې
او هغه سوغاتونه په کې ذخيره کېدل چې خدای ته وقف شوي وو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ داود سلیمان ته د کاهنانو او د لاویانو د ډلو د وظیفو دپاره،
همدارنګه د هغه کار دپاره چې د څښتن په کور کې ورته اړتیا وه او
په هغه شیانو باندې د پام کولو دپاره چې په عبادت کې ورڅخه کار
اخیستل کېده، نقشه ورکړه. ۱۴ هغه سلیمان ته وویل چې څومره
سره او سپین زر د خدای د کور د مختلفو شیانو د جوړولو دپاره په
کار دي، ۱۵-۱۶ چې په کې څراغدانونه، څراغونه، د سپینو زرو
مېزونه او د سرو زرو هر مېز چې ورباندې هغه ډوډۍ ایښودل کېده
چې خدای ته وړاندې کېدله، شامل وو. ۱۷ هغه دا لارښوونه هم
ورکړه چې څومره سوچه سره زر دې په پنجو، د وینې د شیندلو په
کاسو، په پیالو او په نورو کاسو کې ترې کار واخیستل شي، څومره
سپین او سره زر دې د پشقابونو په جوړولو کې ۱۸ او څومره
سوچه سره زر دې د خوشبویۍ د سوځولو په قربانګاه او د هغې
جنګي ګاډۍ په جوړلو کې ترې کار واخیستل شي چې د هغو اسماني
مخلوقاتو دپاره وه چې خپل وزرونه یې د څښتن د لوظ د صندوق
دپاسه خپاره کړي وو.

۱۹ بیا داود سلیمان ته وویل: «د دې نقشې ټول تفصیل د خدای له
لارښوونې سره سم لیکل شوی دی او هغه یې ماته روښانه کړي دي.
۲۰ قوي او زړور اوسه، په کار پیل وکړه او هېڅ شی مه پرېږده
چې ستا د لارې خنډ شي. زما څښتن خدای ستا سره مل دی. هغه
به دې یوازې پرېنږدي، خو تر هغه وخته پورې به ستا سره پاتې شي،
ترڅو چې د څښتن د کور کار پای ته ورسیږي. ۲۱ کاهنانو او
لاویانو ته خپلې وظیفې ورسپارل شوې دي او هر ډول ماهر کارګران
راضي دي چې ستا سره مرسته وکړي. همدارنګه خلک او د هغوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مشران به هر هغه څه کوي چې ته يې ورته وايې.»

## د ښښتن خدای د کور د ودانولو دپاره سوغاتونه

# ۲۹

۱ داود پاچا ټولې غونډې ته دا اعلان وکړ: «زما زوی
سلیمان خدای غوره کړی دی، خو هغه لا تر اوسه ځوان دی او
تجربه يې لږه ده. دا کار چې کېدونکی دی ډېر لوی دی، ځکه چې دا
د خلکو دپاره يوه ماڼۍ نه ده بلکې د ښښتن خدای دپاره کور دی.
۲ ما په ټول زيار د خپل خدای د کور دپاره مواد تيار کړل لکه
سره او سپين زر، برنج، اوسپنه، لرګي، د عقيقو تيږې، رنګين غمي، هر
ډول نورې ګران بيه تيږې او په پوره اندازه د مرمرو تيږې.

۳ د دې شيانو سره سره چې ما تيار کړي دي، زما د مينې له امله
چې د خدای له کور سره يې لرم، په لاندې ډول مې له خپلې
ځانګړې شتمنۍ څخه سره او سپين زر ورکړي دي: ۴ د اوفير د
۱۰۰ ټنو څخه زياتو د ښو سرو زرو او د ۲۴۰ ټنو سپينو زرو څخه
به د دېوالونو په پوښولو کې کار واخيستل شي ۵ او کسبګر به هم
د سرو او سپينو زرو د ټولو شيانو په جوړولو کې ورڅخه کار واخلي.
اوس بل څوک حاضر دی چې د ښښتن د کور د ودانولو دپاره د
نذرانې په ورکولو سره ښښتن ته خپله وقفېدنه وښايي؟»

۶-۷ وروسته له دې چې داود له خبرو څخه وزګار شو، د
کورنيو مشرانو، د قبيلو مسؤولانو، د لښکرو قوماندانانو او د پاچاهۍ
د چارو مسؤولانو په خپله خوښه د خدای د کور د کار دپاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سوغاتونه ورکړل. په دغو سوغاتونو کې ۱۷۰ ټنه سره زر، ۳۴۰ ټنه
سپين زر، ۶۱۰ ټنه برنج او ۳۴۰۰ ټنه اوسپنه شامله وه. ۸ هرچا
چې قيمتي تيږې درلودلې هغه يې هم د څښتن د کور خزانې ته
ورکړلې او يحييل چې د جرشون له طايفې څخه ؤ د هغې ساتنه يې
کوله.

۹ خلک ډېر خوشحاله وو چې دومره شيان د زړه له کومي
څښتن ته ورکړل شول او داود هم ډېر زيات خوشحاله ؤ.

## داود او د څښتن ستاينه

۱۰ داود د ټولې غونډې په مخکې د څښتن ستاينه وکړه:

«ای څښتنه، زه له شروع نه تر پايه ستا ستاينه کوم! ته هغه خدای
يې چې زمونږ نيکه يعقوب ستا عبادت کاوه. ۱۱ ای څښتنه، ته
لوی، قوي، ځلانده او له جلال او شان او شوکت څخه ډک يې. په
اسمان او ځمکه کې هرڅه ستا دي او ته پاچا او په ټولو کايناتو
باندې واکمن يې. ۱۲ ټوله شتمني او درنښت ستا له خوا دی. ته په
هر شي باندې په خپل زور او واک سره حکمراني کوې او ته کولای
شې چې له هرچا څخه لوی او قوي سړی جوړ کړې. ۱۳ اوس ای
زمونږ خدايه، مونږ ستا شکر ادا کوو او ستا د جلال څخه د ډک نوم
ستاينه کوو.

۱۴ بيا زه څوک يم او زما قوم څوک دی چې د داسې سوغاتونو د
وړاندې کولو لياقت ولرو؟ مونږ دا دعوه نه لرو چې څه شی تاته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

درکوو، ځکه هرڅه چې لرو هغه ستا دي او ستا د مال څخه مونږ
تاته دا هرڅه وړاندې کړل. ۱۵ مونږ د خپلو نيکونو په شان يوازې
پردي او زر تلونکي يو چې يو څه موده دلته په ځمکه باندې ژوند
کوو. مونږ به زر د هغې سيورې په شان پناه شو چې ناڅاپه ورکيږي
او هيڅ هيله نشته چې دوام ولري.

۱۶ اى زمونږ څښتنه خدايه! مونږ دا ټول شيان ستا د کور د
ودانولو دپاره راوړي دي، هغه کور چې ستا د نوم د عزت دپاره دی.
دا ټول ستا دي او تا مونږ ته راکړي دي. ۱۷ اى زما خدايه، زه
پوهيږم چې ته د هرچا زړه ازمايې او له هغو خلکو څخه خوشحاله
يې چې صادق دي. ما په اخلاص او رضايت سره دا ټول شيان
درکړي دي او هغه خلک چې دلته راغونډ شوي دي ما وليدل چې
هغوی د خومره خوشحالۍ سره تاته نذرانې راوړې دي. ۱۸ اى
څښتنه، زمونږ د نيکونو ابراهيم، اسحاق او يعقوب خدايه! تل دا شوق
د خپلو خلکو په زړونو کې قوي وساته چې د دوی زړونه تاته
وفادار پاتې شي. ۱۹ زما په زوی سليمان کې داسې شوق پيدا کړه
چې په پوره توګه ستا د هر امر اطاعت وکړي او هغه د عبادت ځای
ودان کړي، د کوم دپاره چې ما دا سوغاتونه تيار کړي دي.»

۲۰ بيا داود ټولو خلکو ته حکم وکړ: «د خپل څښتن خدای ستاينه
وکړئ!» نو ټولې غونډې د څښتن، يعنې د هغوی د نيکونو خدای
ستاينه وکړه او څښتن ته په سجده او پاچا ته د درنښت په خاطر
ټيټ شول.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## سلیمان او د پاچاهۍ تاج

٢١ په راتلونکې ورځ اسراییلیانو زر غویان، زر پسونه او زر وري
حلال کړل او د سوځېدونکو نذرانو په توګه یې د څښتن له نذرانو
سره څښتن ته وړاندې کړل. نورې ډېرې قربانۍ هم د اسراییلیانو په
خاطر وړاندې شوې. ٢٢ نو په هغه ورځ هغوی په ډېرې
خوشحالۍ د څښتن په حضور کې خوراک او څښاک وکړ.

هغوی سلیمان د دوهم ځل دپاره پاچا اعلان کړ. خلکو د څښتن په
نوم د سلیمان سر د زیتونو په تېلو غوړ کړ چې دا خبره په ډاګه شي
چې سلیمان به د هغوی پاچا وي. هغوی د صادوق سر هم په تېلو
غوړ کړ چې دا وښايي چې صادوق د هغوی کاهن دی.

٢٣ په دې توګه سلیمان د خپل پلار داود نه وروسته د څښتن د
پاچاهۍ په تخت باندې کښېناست. هغه یو بریالی پاچا ؤ او د
اسراییلو ټول قوم د هغه اطاعت کاوه. ٢٤ ټولو مامورانو او عسکرو
او د داود نورو ټولو زامنو دا وعده وکړه چې د سلیمان پاچا سره به
وفادار وي. ٢٥ څښتن د سلیمان څخه یو لوی پاچا جوړ کړ او
ټول قوم د هغه شهرت ته حیران ؤ. په حقیقت کې څښتن د نورو
پاچاهانو په پرتله چې په اسراییلو باندې یې پاچاهي کړې وه سلیمان
ته ډېر شان او شوکت ورکړ.

## د داود مړینه

٢٦-٢٧ د یسي زوی داود څلوېښت کاله د ټولو اسراییلو پاچا ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه په حبرون کې اووه کاله او په اورشلیم کې یې درې دېرش کاله
پاچاهي وکړه. ۲۸ داود شتمن او عزتمن ؤ او په زوړوالي کې یې د
دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې. بیا د هغه زوی سلیمان پاچا شو.

۲۹ داود چې د خپلې پاچاهۍ په دوران کې هرڅه کړي دي له
شروع نه تر پایه پورې، د تاریخ په هغو کتابونو کې شامل دي چې
درې نبیانو یعنې سموییل، ناتان او جاد لیکلي دي. ۳۰ هغوی د
داود د قوي پاچاهۍ او د هغو پېښنو په اړه ولیکل چې نه یوازې په
هغه بلکې په اسراییلو او په نورو پاچاهیو باندې هم تېرې شوې وې.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © د ختیځ افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.